کابل

پرله‌پسی کڼه ۵۱۷۸

علمی اجتماعی او ادبی

لړم (۱۳٤۱ش) کال د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹٦۲ کال اکتوبر او نومبر

شمېر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱-	پښتو اوولسی ادب	سلیمان لایق	۱
۲-	دنبوغ او عبقریت کتاب	قیام الدین خادم	۳۱
۳-	گویته	د شجاعی ترجمه	٤۹
٤-	دجونګړې ملنګ (ډرامه)	قتیل خوږیانی	۵۳

امتیاز پښتو ټولنې

مشر گل پاچا الفت

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

لیکونکی : سلیمان لایق

پښتو او ولسی ادب

دوهمه مقاله

مادکابل مجلی په دریمه ګڼه کښې ترپورتنی عنوان لاندی یوه مقاله خپره کړې وه اوپه هغی کښې مې وعده کړې وه چه زه بیا په راتلونکی وخت کښې په دې موضوع باندی بحث کوم ـ البته په هغې مقالی کښې مادیوې خاصې موضوع درونښانولو وعده ورکړې وه مګر ملګرو زه دې خبرې ته متوجه کړم چه داپراخه اونښکلی موضوع نه ښایی په یوې یادوو لنډ کیومقالو کښی بس کړی شی ـ نوځکه مادا تصمیم ونیو چه په موضوع زیات بحث وکړم اواوزد ې مقالې ورباندې ولیکم .

البته په لومړی مرحله کښې زما سره اوسنی خیال نه و او اوس دا موقع له لاسه وتلې ده چه زه دې د پښتو په ولسی ادب باندې خپلو مقالوته علمی او فنی تسلسل اوکړی ه ورکړم مګر دا موقع لاشته ده چه په موضوع بحث وشی اودهغې بیل ارخونه وڅیړل شی . نوځکه به ګران اومحترم لوستونکی ماوبخښی اودموضوع دبحثونو دتصنیف نقص ته به ګوته ونه نیسی .

(دمقالی لیکونکی)

ولسی شاعران :

په دې مقاله کښې دپښتو دپراخ ولسی شعر دشاعرانو اوویونکو په باره کښې بحث کوم ـ مګر پخواله دې چه خپل اساسی بحث ته ننوزم دولسی شعر د شاعرانو دبیلو بیلو ډلو په مشخصاتو او ممیزاتو خبرې کول غواړم او دا ځکه چه دپښتو

دولسی شاعرانو مطالعه په یوه معین صنف کښې غیر منطقی بریښی . او باید د شعر دسبك په لحاظ تفکیك او تصنیف شی .

تاریخی او جغرافیوي عواملو دپښتوولسی شعر په اقساموویشلی او دومره تنوع یې ور کړې ده چه هرقسم یې د بیلواه بی خصوصیا تو ، بیلو سبکو نو ا و بیلو مباحثو لرونکی دی . ډیر شاعران دی چه لنډی وایی مګر چار بیته ، غزل او او دشعر نور اقسام نه لری یا یې ویلای نشی . ډیر شاعران دی چه داستانو نه او قصې لری او نور څه نشی ویلای او یایې نه دی ویلی .

په ځینو سیمو کښې دشعر ویل په خاصو طبقو پورې مربوط شوی دی ـ ا و کله داسې هم شوی دی چه دشعر ویل عیب بلل شوی او شاعران رټل شوی او مجازات شوی د ی . سیاسی او اجتماعی عو ا ملو پر له پسې تغیر کړ ی ا و دولس په هنریې څرګندې اغیزې کړی دی . (۱)

او دهمدې اغیزو په تحت کښې مختلف عوامی اشعارمنځ ته راغلی دی اودشاعرانو مختلفې ډلې چه دفکر او سبك په لحاظ یوتر بله توپیر لری پیدا شوی دی .

مثلا دلنډیو شاعران ، دچار بیتو او غزلو له شاعرانو سره او بیاداد واړه ډلې له هغو شاعرانو سره چه په شعر کښې تا کلی حدود نه لری اوپخپل آزاد طبیعت پسې ځی ډیر فرق لری .

په دې معنی چه دهرې ډلې شعر لفظي او معنوی خصوصیات ، بیل سبك او ځانته طرز او لاره اری او داخصوصیات دمطالعې قابل اودتعریف اوتحدید وړدی او دیوې ژورې او دقیقې مطالعې نه وروسته پوره تشریح او توضیح کیدی شی . مګر د هغو علتونو مطالعه چه ولسی شعرته یې بیل او مشخص رنګونه ور کړې دی

(۱)ـ په دی موضوع باندی به په نورومقالو کښې بحث کوم .

ترنو م وړی مطا لعـی گـران کار دی او سټره عملی احتوا او او ژ ده مبحثو نه غواړی - په ټیره بیا دهغری سو سیولوژی بشپړې مطالعې ته اړتیا لری اوز موږ له اوسنی بحث نه یووتلی کار دی ـ نوځکه بیرته خپلی موضوع ته راګرز م .

دلنډیو شاعران غیر معین خلك دی او داممکنه نه ده چه ووایو پلانی لنډی د پلانی شاعرده او هغه بله لنډی : پلانی شاعر ې ده. د پښتو دلنډیو لوی خصو صیت او امتیاز هم همدا دی چه د هر شاعراو ویونکی آثار له انفرادی تملك څخه ر ا باسی او په ملی عنعنوی ادب یې ورګډوی .

په لنډیو کښې دا خاصیت دومره قوی دی چه وروسته له ډیلو دیو ې هغې لپاره هم خپل خاوندنوم نه ساتی او د انفرادیت بار نه وړی . لنډی که د ښځې ا و یانارینه له خولې راووته بیا دستی د پښتو د پراخو فلکلوری سند و جزءشی اوله یوې خولې بلی خولې ته اوله بلې څخه بلې ته لاروهی او دلنډیو یو د ژور ا و څپان سیند یوه قطره ترې جوړه شی چه جلا کول یې مشکل بلکه ناممکن کاردی.

که څه هم داسې لنډی شته چه ځینو خلکو او شاعرانوته منسوبې شوی د ی مګر ددې لنډیو تعداد ډیر کم دی او تقریبا په حساب کښې نه راځی. له منسوبو شویو لنډیونه یوه هغه لنډی ده چه ځینو هندی مطبوعاتو سید جمال الدین افغان ته منسوبه کړې ده او هغه دا ده :

که مې پخپل یار کښې و فا وای
زه به دبل په در کښې څه له ګرزیدمه (۱)

او دابله لنډی :

ستادر باب زع مې تر غوږشو لکه ښارو دبلی سر ته وختمه

(۱)ـ دښاغلی عبدالمنان دردمند له شخصی یاداشتونو څخه

چه درخانی (۱) تەمنسو به شوې ده.

همداراز ځینی نوري لنډی هم شته لکه لاندنی چه ملالی (۲) ته منسوبه شوې ده.

که په میوند کې شهید نشوې خدایزو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

ځینی داسې لنډی هم شته چه دهغوی خاوندان معلوم دی. لکه دامیر شیر علی خان دا لنډی:

(۱) ماویل په تا به زړګی ښاد کړم اوس له تاوړم دارمانجن زړګی داغونه

(۲) دغم لښکری را پسې دی دبا چهی تاج مې په سر له ملکه ځمه

(۳) نه له تا ځم نه مې هیریزې یا به زه مـرم یا به دې وساتم وطنه

(٤) دیاری لاس مې تاته درکړ یر تا بایلمه سراو مال هم اولادونه

پورتنی لنډی دامیر شیرعلی خان دی اوهغه وخت یې ویلی دی چه له کابله دمزار خواته روان و او هما غلته وفات شو (۳).

درابیا خروتی (٤) دغه لنډی دهغوی په شان دی:

(۱) زوا که (٥) دې ګډه شی مینه چه بې لدماورچخه (٦) ځې ژړا راځینه

(۲) خدایه چکی (۷) بې په غم مړه کړه دپاینده ی کړ دی ته واچوې اوړونه

داسې څو نـورې لنډی هم درابیانـه پاتې دی مګر اوس زمـا سره نشته.

خو ددې لنډیو تعداد لکه چه پخوامې وویل ډیر کم دی اوبل داچه درابیا خروتی

«۱»- دادم خان معشوقه چه دپښتو په ولسی ادب کښی یو لوی اومهیج داستان لری.

«۲» دمیوند جګړی یوه زړه وره غازی پیغله.

«۳»- دکابل کالنی کال... «پښتودشاهانو په دربار کښې» لیکونکی بینوا.

«٤»- رابیا خروتی یوه پښتنه شاعره ده چه «۹۰» کاله پخوا دمینې اوشاعری په جرم وژل شوې ده. «٥»- دکلی نوم دی. «٦»- څخه.

«۷»- چکی- جنکی- نجلی.

اومي احمدزی (۱) اوسورساندی (۲) لنډی ددوی دعاشقانه ماجراګانواوخاصو ممیز اتو له کبله تریووخته د دوی په نوم یادې شوی دی مثلاً .د(زواکه) کلمه درابیاپه لنډی کښی دومره ښیی چه دالنډی (دزواکې)په کلی پوري ارتباط لري او

په دې رازهم یوازې هغه څوک پوهیږی چه دې سیمې ته نزدې او سیږی او زواکه پیژنی . او په بشپړ حقیقت باندې یوازې هغه څوک پوهیدای شی چه درابیا د مینې دغمجن داستان څخه خبر وی . مګر که چیرې در ابیا د شعر نورې نمونې نه وای پاتې دا احتمال ډیر قوی وچه دالنډی دبل چا بلل شوی وای اویا دنورولنډیو په څیر بی خاونده پاتې وای او دټولو مال بللشوی وای .

اوس هم همدا لنډی لکه د نورو زړګونو لنډیو په څیر نور و ځلکو د خپلو احساساتو څرګندولو لپاره پخپلو کلیوپوري تړلی ده .ما بووخت دسروزی(۳) نه یوه او سید ونکی نه دا لنډی داسې واورید :

— سروزه دې ګډه شی مینه چه بی لهماور (څنې) ځې ژړا راځینه

په عادی شرایطو کښې دا احتمال ډیر قوی دی چه نوموړی لنډی د پښتو په پراخ ولسی ادب کښې داسې حل شی چه مرجع او ارتباط یې بالکل وزک شی او راز راز تصرفونه دې پکښې راوستل شی . او دا حقیقت دومره روښانه دی چه دپښتو هره لنډی دهغه مثال او مصداق دی . که زموږ او سنی پیړی لکه څو تیرې پیړی عوامی هنرته نه وای څیر شوی هیڅکله به درا بیا لنډی هم چاددې په نوم نه وای ثبت کړی او د سور ساندی دلنډیو په څیر به بالکل ورکې وې او سره له دې چه اوس موږ ه الندی ددې په نوم ثبت کړه ددې نوري سلګونه لنډی

(۱)ـ یوه پښتنه شاعره ده اومادکابل رادیو په ادبی پروګرامونو کښې معرفی کړې ده.
(۲)ـ یوه پښتنه شاعره ده . (۳)دکلی نوم دی .

په ولسی سندرو کښې حل شوی او د انفرادی تملك له حدود ووتلی دی . او ددې مطلب لپاره دالونې دلیل دی چه درابیا غوندی پیاوړی شاعر ې به په دوو دریو لنډیو اکتفاء نه وی کړی .

دسور ساندی او او مې احمد زی خوحتی نور شعرونه هم ښه معلوم نه‌دی .

دعلی خیل شاوالی (۱) خولا هیڅ نه دی پا تې .

په‌هرحال د لنډیو شاعران هغه خلك دی چه نوم‌یې له شعر سره نه پاتی کیږی اودشاعر په صفت یې څوك نه پیژنی .

مګر دولسی شعرونو نور اقسام داسی نه دی اودلنډیو په څیر ژر خپل خاوندان نه هیروی مثلاً دباجوړ ـ پکتیا ـ کندهار ـ پیښور ـ کوټې ـ فراه او د پښتنو په ټولوسیمو کښې لاتراوسه داسې چار بیتې ـ غزلې ـ داستانونه او دولسی شعر د نورو انواعو او اقسامو مثالونه ډیر دی چه شاعران یې مړه شوی او شعرونه‌لاد دوی په نوم یادیږی .

دلته داستشهاد لپاره دباجوړ دیوه ولسی شاعر عبدالغفار (۲) یوه چار بیته ر ا نقلوم . ښاغلی عبدالغفار تقریباً د ۱۳۲۰ هش په شا وخوا کښې مړدی . اونژدې نیمه پیړی یې له مرګه تیره شوې ده ـ شاعر په دې چار بیته کښې دیوې ناراضې نجلی واقعی احساسات په ډیر خوازه بیان څرګند کړی او په ضمن کښې یې په‌خپلې ټولنې باندې انتقاد کړی‌دی. ځینی وایی چه شاعر دا چار بیته دخپل‌ناکام عشق نه وروسته دخپلې معشوقې له خولې ایکلی ده :

---

(۱) ـ دایوولسی شاعر دی اوماته صرف دده‌دیادداشتو ناقص کتاب په لاس راغلی‌دده له‌دیاداشتومعلومیږی چه‌دی دخپل عصر په متداولو علومو کښې متوسط معلومات هم لری مګر دشعر هغه دوه نمونې چه‌ما پیدا کړی دی عامیانه خصوصیات لری .

(۲) ـ دا چاربیته د ښاغلی دردمن له شخصی یاد داشتونو څخه را اخیستل شوی ده

راغلی سوداګر زما د سر دی خریدار
چه ورمې نکړی پلاره قبول کړی مې کونډتون دی .
راغلی سوداګره ز ه یې په حال شومه خبر
سودامې د د ا د ا سر ه کو ی ز ما د سر
ربښتیا ده داخبره یاره و کړه پر ې با و ر
هلکه فکر و کړ ه چلو ه پکښې هـــر
بیاجمعه کړه خاطر که دې راضی کړوزما پلار
راغلی سود ا ګر ز مادسر د ی خر ید ا ر
کهوریې کړم دواره بیا زماوتابیلتون دی
چه ورمې نکړی پلاره قبول کړی مې کنډتون دی
دې اوربې ویل پلاره تاعبث کړی سوداده
پروادې پهمانشته په روپو کښې دې مدا ده
میړه نکوم پلاره ته خبر شه له مراده
روپی دې بیرته ور کړه وایه لورمې نار ضاده
سړی دی بهکما له زه یې پوه شومه په کار
راغلی سود اګر زما دسر دی خر یدار
ارزو می شوه پایماله ټول وطن راباندې دوندی
چه ورمې نکړی پلاره قبول کړې مې کنډ تون دی.

❁ ❁ ❁

دې پلارېې ویل لورې تاته چا کړی ښودنه
چه داسې درته وایی ته یې خاصه یې دښمنه

دپلار په کاله ګرانه ده دخورا و لوړ ساتنه
یقین مې په تانشی چه به کښینې بی څښتنه
چا کړې په ګودر راته خبرې ستا دیار
راغلی سوداګر زما د سردی خریدار
دښځې چه خاوندنه وی خراب یې ټول ژوندون دی
چه ورمې نکړی پلاره قبول کړی می کنډتون دی

❁ ❁ ❁

دې پلارپی ویل لوړې ګوره دادې کمبختی ده
ته داسې څه له وایې مادعا کړی وختی ده
روپۍ چه بهر ته ور کړمه دابیابې غیرتی ده
همیش به یې خو شحاله بچی لږه دې سختی ده
روپی مې دی اخیستی اوس به نورې کړم تری شمار
راغلی سوداګر زما د سردی خریدار
که ته شوې بی اتباره تاقسم کړی پرون دې
چه ورمې نکړې پلاره قبول کړی مې کنډ تون دی

❁ ❁ ❁

دې لوریې ویل پلا ره وبه نکړم بی لاری
قسم راسره و کړه که مې ته ساتی عمری
دا دود دی د دنیا چه دوه کوی سره یاری
هغه به څنګ نجلی وی چه بې نه وی وفاری
لږه مې په نظر که چېری ماو کړو بد کار
راغلی سوداګر زما د سردی خریدار

که زه شوم نااتباره در ښپلې مې خپل خون دی
چه ورمې نکړی پلار ره قبول کړی مې کنډ تون دی

❁ ❁ ❁

دې پلار یې ویل لورې په تانشته نازېدل
دنو کو په سرګرزې هر سړی ته کړې خندل
تاایښی قت په قت زیړی ګلونه په اوربل
یقین می په تاکیږی چه دې یار نیولی بل
روان شو مرور د خپلې لورنه په ډېرقار
راغلی سوداګر زماد سردی خریدار
اوس وایی عبدالغفار دیاراتې دغه مضمون دی
چه ورمې نکړې پلاره قبول کړی مې کنډ تون دی

دلته به دمیاګل جان بنیری (۱) یوه چار بیته را نقل کړم. په دې چار بیته کښې میا ګل جان طالبان دامامت له عواقبو ویرولی دی او دهغه تکلیفو نه یې یویو ورپه ګوته کړی دی میاګل جان وایی :

اما متی توره بلاپرې خبردار به شې
که ته امام شوې طا لب جانه توبه ګار به شې

. . . . . .

. . . . . .

. . . . . .

. . . . . .

امامتی توره بلا پرې خبردار به شې
که ته امام شوې طالب جانه توبه ګار به شې

«۱» دښاغلی دردمن له شخصی یادداشتو څخه اخیستل شوی دی.

که چیری پیښ شی په کندی کښې درته مړی وروړه
تا به روان کړی لهجومات نهستړګې خړې وروړه
که ورسره نهځي کتاب کښې ورته پرې وروړه
که ته یې نکړی دهغه کلی دښمن دار به شې
اما متی توره بلا پرې خبر دار به شې
کهته امام شوې طالب جانه توبه ګار بهشی

❁ ❁ ❁

کوزه پهلاس به دمرده په سرو لاړ یې کنه
صورت یې مینځې کهته خاندې او که ژاړې کنه
دغه مرده بهدرته پروت وی جینګې داړې کنه
دسخات پهتمه هرڅه تهتیار بهشې
اما متې توره بلاپرې خبر دار به شې
کهته امام شوې طالب جانه توبه ګاربه شې

❁ ❁ ❁

د د رمند ونو په وخت ډیر پهځای نا کام به کوې
ته به د هر سړی رشې ته ډیرې یرپا م به کوې
په د وا یه لا سه مقتدیانو ته سلا م به کوې
لا س به د هر سړی را کاږې منت بار به شې
اما متی تو ره بلا پر ې خبر دا ربه شی
که ته ا ما م شو ې طا لب جا نه تو به گا ر به شې

❁ ❁ ❁

هلته را شه به و ی تیا ره پر یښو د ی بې نشې
د مقتد یا نو حا ل ته ګورې ټینګید ی به نشې
سر به د ې بند و ی په کمند کښې خلا صید ی به نشې
ا ما م به ته یې د ټو ل کلی څو کید ار به شې
ا ما متی تو ره بلا پرې خبر د ا ر به شې
که ته ا مام شو ې طا لب جا نه تو به گا ر ؤ به شې

❁ ❁ ❁

ژ به د ې بند کړه میا ګل جا نه نو ر بیا ن مه کوه
د د ې خبر ې ملا یا نو ته عیا ن مه کوه
څو ك به د ې مړ کړ ی په د ې ځا ی کښې نور نقصان مه کوه
که ملا یا ن د ر با ند ې پوه شول فتنه د ا ر به شې
ا ما متی تو ره بلا پرې خبر د ار به شې
که ته ا مام شو ې طا لب جا نه تو به گا ر ؤ به شې

❁ ❁ ❁

زمامطلب په دې اوږدومثالو کښې داو ،چه په عملی توګه دغزلواوچار بیتودشعر هغه خصو صیت وښیم چه تر ې یره وخته د خپل شا عرانو م سا تی

په همد ې علت مې د د غواشعارو(۱) شاعران دلته یو له شا عرانوبیل کړل او ترعلیحده فصل لا ند ې یې مطا لعه کوم.

د دغوشعرو نو یوبل ستر خصوصیت دادی چه خپل ماحول په مفصل او تشریحی ډول منعکسوی او دلته یوغوندې ګړ ندی اونازك تعبیر نکوی. بلکه ډیرو عادی مسألو

(۱)ـ یعنی د چا ر بیتو ـ لو بوـ غزلو اود ټولو هغو انواعو شعرونه چه د شاعر نوم سا تی او دلته یو غو ند ې نه دی .

ته هم توجه کوی. که لنډی دتعبیر په برخه کښې دیوه ماهر رسام هغه اثر ته ورته وبولوچه څوساده کرښو کښې یوغږ رسموی نوچار بیتې اوغزلې به دغره هغه تصویر ته ورته وی چه دغره ټولې تړې، لوړې اوژورې یکښې ښوول شوی وی.

ددې شعرونو بل خصوصیت دادی چه نسبت لنډ یوته لفظی فقر اوګرامری ضعف لری اوهغه قوت چه په لنډیو کښې د ترکیب او تخیل په لحاظ پروت دی په دې اشعارو کښې نشته او البته کله چه په راتلونکو بحثونو کښې دولسی شعرونو مقایسې ته ورسېږم داتو پیرونه به په ډیرومثالو کښې وښیم.

مجلسیان، بحثیان، اواخونان:

مجلسیان، بحثیان اواخونان هغه ولسی شاعران دی چه ترټولوولسی شاعرانو یې دپښتوشعر سره زیاته علاقه نیولی او تقریباً له شعر سره یې کسبی رابطه پیدا کړې ده. داشاعران دپښتونخوا په ښلوښلو برخو کښې ښل ښل رودونه، عاه تونه اولاري لری. داشاعران عموماً ترسیمی شعرونه وایی او د شرقی پښتنو په درنو حجرو کښې ددغوشاعرانو آثار درباب اومنګی سره ویل کیږی اوپه همدې وجه ځینې پښتانه دوی ته مجلسیان (سند رغاړی) هم وایی. ددوی شعرونه لکه پخوا هم چه ماوویل تریوه وخته ددوی په نوم یاتی کیږی او تقریباً یوه پیړۍ دخلکو له حافظوسره ملګرتیا کوی. مرادشینواری په (خیبرادب) کښې لیکی: «دبې علمی له کبله ددوی کلام دشپیتو نه تراتیا کالو پورې خلکوته یادوی او کوم وخت چه ددې کلام یادلرونکی مجلسیان(۱) دګور خونې ته لاړشی نوور سره کلام هم ترتورو خاورولاندې شی. دابدلې پښتانه مجلسیان یاپخپله شاعران در باب اومنګی سره په خاصوملی طرزونووایی».

(۱) مطلق سندر غاړی مطلب دی.

مګرد کندهار په غربی برخو اودفراه اوهرات په ټولو برخو کښې پخپله شاعران خپل آثار او شعروته دسازونو سره نه بولی. خود کندهاریه شرقی برخو اوپکتیا اود شلګرپه سیمه کښې داسې هم شته چه شاعران خپلې سندرې بولی اوداسې شاعران هم شته چه خپلی سندرې مجلسیانوته دبللو لپاره ور کوی

داشاعران زیاتره بدیهی شعروایی او قدرت لری چه دموضوع دلیدلوسره سم شعر ووایی. ددې بدیهو سلګونه مثالونه دپښتنوپه هره سیمه کښې شته اوتراوسه ژوندی پاتې دی .

نوموړی شاعران پخپلو منځو کښې ډیرې مشاعرې لری اودې مشا عروته د باجوړ اوشاوخوا سیمې خلك بحثونه وایی اود همدې بحثونو په اعتباردې شاعرانو ته بحثیان هم ویلی شوی دی. زمونږ په هیواداود پښتونستان په بر کتی سیمه کښې لاتراوسه هم ددې بحثونو وروستی وړانګې چه دنوی تهذیب پیاوړی رڼاورو وروو دور کې پرده پرې غوړوی ښکارپږی .

دپښتور خلکوبه بحثیانوته اخونان ویل اومنفرد بحثی به یې (اخون) باله . مراد شینواری په (خیبر اهب) کښې داسې لیکی :

«زمونږ پخوانوبه دې شاعرانوته اخون ویل له هراخون سره به لس پنځلس شاګردان وو اوداثراونفوذ په مطابق به یې دخپلې علاقې حدونه تاکلی وو.

بل اخون ته داحق نه‌و، حاصل چه په هغو حدونو کښې مجلس‌و کړی .

هو! که دیوې علاقې اخون غوښتل چه دیوې بلې علاقې اخون سره د خپلو شاګردانـو ترځان لاندې کړی نوهغه ته بایده ووچه ډومبی خپل‌مد مقابل ته خبرداری ور کړی- دخبرداری نه پس به دمقابلې دیاره یوځای وټـاکـل‌شو . دواړه اخونان به سره دخپلو شاګردانو او نغارو په مقرر شوی وخت یوه بل ته

مخامخ شوه. وهومی به دشاگردانو مقابله وشوه هغوی نه پس به استاذان سره خوله په خوله شول یواځی ون به دچاربیتي سر کښودبل به پرې فی البدیهه کړی سپره کړه.

داشان به دواړووارپه‌وارپه سرپوري بوه یوه کړی ترله.

په دی شعری مجادله کښي به چه د کوم استاذ قافیه تنګه شوه هغه به‌پراو تسلیم شواوسره دخپلو شاګردانواو نغاړو به دفتح باب اخون په پښو کښي پرېږوت اودهغه استاذی به بی ومنله »

مګردي طریقی یعنی د اخوندانو بحثونو چه چرېان اونغاړي‌ورسره وي اونتیجه به یي دیوه غلبه اودبل مغلوبیت وپه ځینو خاصوعلاقو کښي دواج درلود، لکه دپښوراطراف، باجوړ، سوات اوروی ته نژدي علاقي. په‌نورو سیمو کښي‌دبحث (مشاعري) آداب اوترتیب بل ډول دی مثلاً په‌ځینو سیمو کښي‌لکه پکتیادا-ي دواجؤ چه شاعرانوبه خپل شعرونه یوبل ته ویل اونغاړي به پکښي‌نه وي

په ځینوځایو کښي بیاداشاعران دخانانو(ملوك الطوائف) سره‌اوسېدلی‌اودهغو دخوشحالی اوساتیری لپاره‌یي دامشاعري کړی دی اوچرېان‌یي‌نه دی-اتلی.

لکه چه جغرافیوی اختلافونوداخوناواوبحثیانودشعر اوستلو اومجلسونو په کیفیت تأثیرایښی دی همدا راز تاریخی بهیر هم د هغه په سوق او څرنګوالی اثر کړی دی. دروښانیانوپه وخت کښي‌چه‌پښتنی ټولنه‌یوه فکری‌انقلاب‌منګولو ته برابره شوې وه ولسي‌شاعران اوددوی مباحثي‌اومجلسونه هم پیاوړي‌شوی‌دی مګر کله چه بیادسیدعلی ترمزی «پیر بابا» اواخوند درویزه باقیاټولاس موندلی پرولسی شعر یي هم او انګولی‌اوهغوی یي دفجوراوفسق مشوقانو‌بللی‌دی.

همدادرویزه پیروان‌ووچه دشمالی‌پښتونستان په‌ټولوسیمو کښي‌یي مجلسونه

منع کړل، دشاعرانو غاړی یې وچیرلې اوشاعران یې په خروسپاره کړل .

تردېری زمانې دپښتنوحجرې په شېخانوکې شوې اوولسی شعر کښه وکړه، مګرداجریان بیاهم پخپل مکانی اعتبار محدود پاتې شوازپه هغوسیمو کښې چه شیخانونه وذنه درلود دولسی شعر حوش اوجذبه روانه وه .

کله چه استعماری لوټ مارانوپه نولسمه پیړۍ کښې افغانستان خټېځ سرحدونه تهدید کړل پښتنو غازیانو ـ ماجوړ، دیرـ سوات، اوتیراپه سیمو کښې بیـاولسی شاعران تحریک کړل اومخه یې ور کړه. شاعرانو په همدې دوره کښې دپښتنو داستقلال اووحدت دساتلو په منظور ډېرې قوی ولسی سندې وویلې چه تـراوسه پورې لاهغو ډېری نمونې شته دی اوپښتانه سندغاړی یې په حجرو اومجلسونو کښې بولی. هغه سندې چه دنودبازارزېور ملتان دناوګی مجاهد عمرا خان اود تیراکلړپاچا دتل لپاره ژوندی ساتلی دی دهمدې وخت دشاعرانوله خولې وتلی دی( )، داجریان په دې سیمه کښې تردېره وخته روان راوزیاتی خاطرې تر پاتې شوی دی . مراد شینواری دهمدې دورې یـوولسی شاعر داسی معرفی کړی دی:

«زمونږ یوه سپېن ږیری تر ور مجید خان کاکا به اکثر د نجیب الله ذکر کولو چه دلواړ ګی یو بـادی شاعر و . کیدی شی چه هغه ته یې کلام هم یادوای خو متاسـفانه چه مجید خان کاکا اوس وفات شوی دی او د هغه سره د نجیب الله کلام هم تر خاورو لاندې دی . هغه به ویل چه د نجیب الله د مقابلې لپاره ډېر دلرې لری نه شاعران راعلی ډو خو هغه داسې بده بلاوه چه هیڅاور ته په میدان کښې پښه نشوه نیولی یوه ورځ چه نجیب الله چنبه په لاس له لواړ ګی نه حیبر ته روان و . په لاره شاعران پرې راپیښ شول

(۱) خیبر ادب

چه پـه خـر و يـې نـغـار ې تـړلـی وې او لـواړ ګـی ئـه رو ان وو نجيب الله له ورايه وپيژندل د ګړې بری به پس يې تپوس تری و کړو چه تاسو چرته روان يی ۰ دهغوی مشر اخوزډېر په طنزيه انداز کښې ووې مونږ اخونان يو او د نجيب الله اخو ن په اصيلو لو پسې لو اړ ګی ته روان يو اپه دی خبره د نجيب الله ور بوزو ران شو . ډېره غصه ور غله خو ځان ئې قا بو کړ او ورته وې ويل اشنا زه هم د نجيب الله يوشاګرد ګوتی يم ډېره بی خو يې په همدې ځای کښې زما سره معلومه کړه نو بيا مې استاذ ته ورځه .

دا خبره وه چه د نغارو او چنبو تسنټې را کښل شوې او هم په لاره کښې هغه شعری مقابله شر وع شوه چه مخا مخ اړ خو نه او کځو نه هم د نغا رو درزانه حيران پاتی شوه .

د شاګردانو پښې خو ټينګې نه شوې ورو په ورويې ميدان پرېښود ، بيانو د مشر اخون وار راغی ـ به دې وخت کښې دنغارو په ګړز ګړوز د شاو خوا خلك هم را خبر شوه او ددوی نه چار چار پېره تماشې ته کښتا سنل . و ځنډ فی مقابلې نه پس نجيب الله بری وموند اوچه هر کله ورته خلکو (شابسی نجيب الله اخوند) وويل نو ايله هغوی ته معلومه شوه چه مد مقابل پخپله نجيب الله دی . هغو ی خپلی نـغاری نجيب الله نـه وسپارلی خـو چونکه نجيـب الله هـغوی خپل مېلمانه کښل نو هغوی ته يې خپلې نغـاړې بېرته ورستنې کړې .

ويلی شی نجيب الله به چه مقا بلې ته را ووت نوډومبی به يې چنبې ته يو څو د روزونه ور کړه بيا به يې په ځمکه پښه ووهله ، په تا وېد و تاو بدو کښې به داسې د استغراق چپو په مخه واخيست چه د دنيا او مافيها نه به بيخی نا خبره شو او بې اختياره به يې دخولې نه داپسې موزون اشعار راوتل چه اورېد ونکی

بهورته ګوته په خوله پاتې شوه .

دا وړی یوه ګرمه شپه وه چه نجیب‌الله د یو اخون د مقابلې د پاره پیښورته تللی و .

د مقابلې انتظام د سخت حبس له کبله د کوټې په چت شوی و۔ هر کله چه حریف اخون د چا د بیټې سر کهیښود او یوه کړی یې هم‌سپره کړه نو نجیب‌الله هم د استغراق په سیند ننوت پښه یې په ځمکه ووهله او پخپل حریف یې سخته ځو ا بی حمله بنا کړه . هغه له خپله ځانه د خپل چا ر پهر چل نه دومره بې نیازه شوی و چه نا څاپی یې پښه د کوټې د بلی نه‌را و شو یهده او دلاندې را ولوید و او دلاندې را اویدو سره سمه یې ساه ور کړه (۱) ،

کله‌چه‌اخونان په بحث(مشاعره)شروع کوی‌معمولاً خپل‌شاګردان مخا مخ‌وی:

شاګرده کوه پام چه فکر نکړې خام

دعوت به دامت کوې په څه شانې هوښیاره

غوږ کیږده زما یاره

شاګرده و که پام چه فکرې نکړې خام

د مور سره څمله چه نصیب دې شی ایمان (۲)

کوم‌درته بیان

عجیبه قصه داده ـ زما پکښې سودا ده

نه خدای دی پیدا کړی نه امت د پیغامبر دی

---

(۱)د خیبرادب ۴۹ـ۱۵۰و۵۱ مخ لیکونکی مراد شینواری دچاپ کال۱۹۵۸ع پیښور .

(۲) دا د پښتو دولسی ادب معمی ته ورته خاص فنی رمزونه دی‌او د همدې فن ټول خلك پرې پوهیږی او زه به یې پخپل ځای کښې توضیح کړم.

دا څرنګه بشر دی
شاګرده یو مرغه ېې دی نیولی ـ کراري کینه غلی
په شپږو پښو سپور څلور یې ژامی یو یې سر دی
دی نشی الوتلی
په بحثونو کښې چه اخونان سره مقابل شی دود داسې دی چه هر یو ملتړه د شاګرد خطاب کړی او هر یو ځان نسبت مقابل لوړی ته استاذ بولی دلته دیو بحث یوه برخه چه د پښتو ددوواخونانوله خولې روایت شوی دی او دا خصوصیت څرګندوی ، وګورئ:
لومړی اخون)
دوه نیم زره پښې څه زیات وکم یو لري سر
جواب یې راته راکړه چه دا څه شی دی دلبر
دوه نیم زره پښې دی زیاتو کم نلری لاس
مزل په دا پښو کوی د ځمکی نه څی باس
خدمت کښې د هندو او مسلمان کوی اخلاص
لیدلی ما په خپله د ی په دی کښې مکړه بحث
کمیس یې وی اغوستی د څر منې برابر
دوه زره یې پښې څو زپاتو کم یو لری سر
حیران یم ورته یاره چه مې راغی په نظر
ځواب یې را نه را کړه چه دا څه شی دی دلبر
دا څه شی دی شاګرده ا چه پره کاندی هڅیار
د ماشی نه کمزوری ورته ټیګ نه دی اوښان

بې سټنو مخ په پورته همیشه کوی سفر
دوه نیم زره پښې څه زیاتو کم لری یو سر
دو هم اخو ن :
پیدا شو یو هلك د پاك رسول په زمانه کې
له ذا ته یهو د ی و کور یې وپه مدینه کې
پیدا شو یو هلك اته یې خولې اته سرو نه دی
ګرزی په څلوریې دخاوند بادشاه کارونه دی
سترګې دچو نګښې د مرغی یې و زرونه دی
خر توم یې دهاتی د ی برابردی په تنه کې
پیدا شویو هلك د پاك رسو ل په زمانه کې
څټ یې د او ښا نود غوایی په شاته بنکرلری
هم څلور پښې څاور لاسو نه مقرر لری
لکی یې بزې ده غوږ پرې کیږده زما ور وره
څواب یې را ته را کړه معطلی مکوه نوره
څواب برابر را کړه خلا ص به نشې بهانه کې
پیداشو یوهلك د پا ك رسول په زما نه کې (۱)

لکه چه په پورتنی بحث کښې لیدل کیږی بحثیان کله کله دبحث په وخت کښې دموضوع وحدت ساتلو ته هم توجه نکوی بلکه هر یو دبل نه بیلې بیلې پوښتنې کوی او د پو ښتنو سلسله تر هغو پورې روانه وی چه یولوری مغلوب شی
مګر په ځینی بحثو کښې دموضوع وحدت هم سا تل کیږی اوپه یوه موضوع

(۱) دبحث دوا ړه چاربیتی دښاغلی دردمن له شخصي یاد دا شتو څخه اقتباس شوی دي .

با ندې خبرې کیږی ددې بحثو نومثالونه ډېرز یات‌دی مګرتر ټولو ښه مثال یې
د . . . . . او . . . . . هغه بحث‌دی چه د بلبل اوباز په‌باره کښې یې کړی
اوهر یوه دموضوع له یوه طرف‌نه دفاع کړی‌ده، په‌دې بحثونو کښې یوخصوصیت
ثابت دی هغه داچه خامخابه بحثیان د مینګی اوسازونو سره بحث کوی اوشاعر
به سند رغاړی هم‌وی اوخپل بحث‌به په سندرو، غاړو اونارو کې پرمخ بیایی.

دبحث اوریدلوته ډیر خلك راغونډ یږی اوسخته‌مینه ورسره‌لری دا بحثونه
دپښتو دملی موسیقی دسا تنې لپاره‌اوهمدا راز موسیقی دهمدې ادب دساتنې لپاره
ډیرمفیده‌ده اوددې خبرې‌دثبوت‌لپاره ډېردلائل‌شته‌دی.هغه‌وخت‌چه داخوند درویزه
با قیاتو دمجلسیانو نفارې وشلولې اوشا عران یې‌له بحثونو منع کړل موسیقی
او ولسی شعر یوځای خوله پټه کړه اوځای یې دشیخا نو وچو سپو رو مرکوته
خوشی کړ .مګر کله چه پښتنو غازیانو یعنی ولسی شاعرانو ته د غزا او وطن
په‌باره کښې دشعرونو دجوړولو بلنه ورکړه د شعراوموسیقی بزمی هنرونو یوځای
سر را پورته کړ.

په‌حقیقت کښې‌دا کارمشکل‌دی‌چه‌دپښتنوحجرو کښې شعراو موسیقی ته څوك
بیلې مرتبې پیدا کړی ځکه چه هلته د شعراو موسیقی غږ د واړه د یوه سړی
له خولې اوګوتونه یوځای پورته کیږی اویو دبل متمم اوبرخه بلل کیږی .

هغه سندرې چه‌په مجلسونو کښې دمجلسیانوله خوا ویل کیږی په عمومی
توګه دادی .

۱ـ لنډی(۱) ۲ـ ټپې ۳ـ لوبې ٤ـ سندرې ٥ ـ ټیکی ٦ـ بدلې ۷ـ چاربیتی ۸ـ بګتی

(۱) دلنډی د بحث دجز په حیث نه ویل کیږی بلکه دد رناوی له‌کبله بحث پهغې
شروع کو ی او دا فرق نه‌کوی چه لنډی د چااود کو می سیمی ده

دمنی په موسم کښې دیوه غرنی کلی منظره

۹ـنیمکی۱۰ـ سروکی۱۱ـ پاړکی ۱۲ـ غزل ۱۳ ـ رباعی-۱٤ـقصه ۱۵ـدوړی ۱٦ـمتلو نه ۱۷ـغاړې ۱۸ـ څنڅیړی .

بومجلسی شاعر باید دا پورتنی اشعار ایجاد کړای شی‌اوهم یې له شاګردانو سره په مجلسونو کښې وویلای شی‌او کەیې دالەلاسه پوره نەوی هغه ته داستاذی مرتبه نه وی حاصله شوی .

شاغلی در دمن چه پخپله یې ډیر عمر دولسی‌شاعرانو سره تېر کړی او ډېر وخت یې دهغوی شاګردی کړی‌ده اوترهر چاپەدې برخه کښې زیات اوموثوق معلومات‌لری د مجلسیا نوپه باره کښې داسی لیکی :

« هغه مجلسی استاذ چه لومړی چړی او بیا د خپل خوږآو از اوخوند ورغږ په برکت یی دنو رو سند رې په یاد وز ده وی او مجلس گو ی د مجلسی په نوم پېژند ل کېږی .

چړیان اوشاګردان هغه دی چه دا ستاذ سره سرو کی‌وا یی اودنګر په طرز یوهېږ ی او په خوا ږه اواز دجا ن ـ قربا ن ـاو- ایله زار - په غږ داستاذ سره ملګرتیا کوی‌مګر خپله سندری‌نشی‌جوړولی .

دمجلس موسیقی آلات دادی: شپیلی- سورنی- تورنګ-نغاره- سرنده- رباب دري تاری- داریال- دوپړی- باجه- منګی او جرنګلی.

مجلسونه راز رازدی لکه دنا ستې مجلس، دولا ړې مجلس درو انې مجلس، داتې مجلس دګډا اوږدومجلس ددورې مجلس دچکچکو مجلس. او بیاپه دغو کښې دورځې مجلس،دشپې‌مجلس، دماخستن‌مجلس‌دلومړی‌شومې‌مجلس‌او دسوال اوځواب قهرپدلی مجلس»

بزمی‌شاعران: دولسی شاعرانو همداړله چه مجلسونه بحثونەاو شاګردان لری

سندري وائی اوبولی يې اومونږ دلته دومره اوږد بحث ورباندې وکړ ما پخپل ویش کښې بزمی شاعران بللی او دلندیو د شاعرا نونه را وروسته په‌دوهم فصل کښې ځای ورکوم په‌دوی پسې دریمه ډله هغه شاعران دی چه ما دخپل تصنیف په‌دریم فصل کښې منلی دی اوزه هغوی ته آزاد شاعران وایم.

آزاد شاعران :

آزاد شاعران هغه ولسی شاعران دی چه نه دلندیو دشاعرانو غوندې له خپلو آثارو څخه لرې کیږی اوور کیږی اونه دبزمی شاعراتو غوندې دهرشعر په‌پای کښې خپل‌نوم یادوی. که‌آزادشاعران دبزمی شاعرانو سره‌مقابسه‌شی داتوپیرونه پکښې لیدل کیدای‌شی .

۱ـ آزاد شاعران پخپلو شعرونو کښې د پخوانیو اوزانو تابع نه‌وی حال داچه بزمی شاعران په خپلو مقیدو اوزانو کښې چه له‌پخوانیو ورپاتې وی شعروایی.

۲ـ آزاد شاعران سندر غاړی نه‌وی او بزمی شاعران غالباً سندر غاړی وی.

۳ـ آزاد شاعران دوزن‌اوفکرله لحاظه زیاتره ابتکار کوی.

٤ـ آزاد شاعران دتعداد په‌لحاظ نسبت بزمی شاعرانوته کم‌دی:

٥ـ دآزادو شاعرانو حرکت له‌محیط سره مقابل وی په داسې حال کښې چه‌دبزمی شاعرانو حرکت ورسره موازی وی .

په‌دی ډله کښې اومی احمدزی، سور شاندې، دادګل را ،بیا خروټی، شاه ولی علی خیل اوحافظ عبدالعزیزفراهی (۱) ډیرښه مثالونه دی.

ددې شاعرانو تعداد نسبت دلندیو شاعرانواو بزمی شاعرانوته کم دی‌اوغالباً

(۱) حافظعبدالعزیز فراهی یوپروندولسی شاعردی چه پەفراه کښې اوسیدلی او لاتر اوسه په خلکو کښې شهرت لری،(ددردمن له‌یادداشتو څخه).

داشاعران نسبت دخپلې زمانې خلکو ته برجسته شخصیت اوقوی ادراک لری.

په آزادو شعرونو کښې اعتراض اوانتقاد زیات دی او نسبت دبزمی شعرانتقاد ته زیات صریح اوجدی وی اود بزمی شعرترانتقادونو دخصوصیت لوړی زیات سانی:

اومی (۱) چه دهمدې شاعرانو له ډلې نده په یوه شعر کښې وایی :

خدول (۲) لوړلی (۳) چه واربه واخلی
که واریې واخیست اوربه یې مړسی
خا ځک (٤) ستانه دی خدای بې بسیا کی
خدول به خپله په ځان ککړ سی
خاځک غله نه دی اوښان « نه ببایی» (٥)
تار خپل تادا کی (٦) ورته چکړ سې (۷)
په ستانه خلکو (خدایګل) ځور ښځی.
خدول بې برخې (۸) به پخپله پوهسی

---

(۱) له هغورو یا تو څخه چه تراوسه لاس ته راغلی دی داسې معلومیزی چه اومی په کام احمدزی ده مګر ژوند یې له خپلې کورنی سره یو ځای د کټواز دسیمې په کوچیانو کښې تېر کړی دی،

شاه ولی علی خپل داومی دځینو هنواشعارو دتوضیح په برخه کښې چه علی خان ته منسوب شوی دی په اومی باندې ضمنی بحث کړی اوده یرواشعارو مهرمن یې بللی ده.

مالومړی ځل داومی نوم په ۱۳۳۷ کال دظفر خان نومی طالب نه واورید او یوشعر یې دې له اثارو ماته ولوست مګر بیا په ۱۳۳۸ کال کښې سمندر خان لالا چه د کټواز دښرنی یومشر او پوه سړی دی دخپل پلار له خولې داومی په باره کښې څه نو ر معلومات را کړل مګر په ۱۳۳۹ کال کښې دشاولی علی خپل دیاد داشتونو کتاب چه سریی لوړلی ولاس ته راغی اوداومی په باره کښې یی نسبتاً مو ثو ق معلومات را کړل. او ماپه دې باره کښې دکابل رادیو په پروګرامونو کښې یوه مقاله هم خپره کړه.

(۲)-دسړی نوم دی (۳) قسم یې کړی دی. (٤) دکوم سړی یا قوم نوم دی. (٥) دشاه ولی په کتاب کښې دغه برخه ښه نه لوستل کیږی او داماله خپله ځانه د وزن دبرا بر ولو لپاره ورسره اچولی ده (٦) تعدی کوی. (۷) په غالب ګمان ددې معنی به داوی چه ورته ملامتشی (۷) بی برخې- بدنصیبه- کم بخته.

که څه‌هم مونږ نه‌اوس د(خپل) لوزی نه‌دی راممعلوم چه‌هغه څوك‌و، څه‌یې کړی ،واو دځه لپاره (اومی)په‌هغه وردانګلی دی مګر انتقادیې زیات صراحت لری اوله عمو میت نه خصو صیت ته متوجه دی او نږدې شوی چه د(ذم) ځای ونیسی. اوهمدغه دی دپښتو په‌ولسی شعر کښې دآزاد شعریو منبارز خاصیت.

بدو په خلکو کی ظلمو نه
نرې په نارودی المونه (۱)
خاورې تر خوله کی رګی یې بنه‌دی
را بټوی (۲) تل افتونه (۳)
بل ځای وایی .
وزیرو(٤) بیانیولی ده‌ګو مله (٥)
شیرك پرو ت په مر چله
دسر وو بنو کتاربیا په‌ګومل ځی
شیر ك ورسره مل‌ځی
سو رساندی ویل زوی ته‌امردینه
وزیربیا جنګ کوینه
دموزه له‌هغوی سره‌بدی ده
یه‌برخه یې کمی ده
که‌برپې باندې نشوې خپلې‌پی به‌درپیل نکم.
. . . . . (٦)

---

(۱) - عالمونه - (۲) راپیداکوی. (۳)شعردشاولی له‌کتابه‌اخستل شوی‌دی. (٤) مطلب دوزیروقوم دی. (٥)یوه‌مشهوره‌دره‌ده چه‌کوچیان‌پې ځی‌رانځی.

(٦) داسندره لهظفرخان طالب نه‌رانقل‌شوی‌ده . ماپه‌دې‌باره‌کښې نهانته زیات‌تحقیقات کړی‌او کله‌چه موضوع‌بشپړه‌شی اوشکونه‌حل‌شی خپره‌به‌یې کړم.

البته دازادو شاعرانو د کلام نمونې زياتې دی خوما ځکه د(اومی) احمدزی سندروته دلومړيو نمونو په حيث ترجيح ورکړه چه يوخو دد ې نـوم اونښـه لاتراوسه نوی ښکاری اوبله داچه هغه داسې شاعره ده چه په اثارو کښې يې ماحول اوژوند بالکل منعکس شوی دی. دلته به خافظ عبدالعزيز فراهی د آزاد شعريوه نمونه هم وګورو چه په کنا يی انداز کښې يې درشوت خوروپه باره کښې ويلی ده:

غوږونيسئ يارانو دعجب شيرين ګفتار
شروع مې کړه غزل

وينازما خوږه ده وايم تاسې ته اشعار
سوری مې سو ګوګل

مار نبې نيو لی کشپ چای ورجوشولې
چونګښې په مستی کښې خپلې ستړګی نورولې
ولا په چرمښکی وه افسانې به يې ويلې
ماهی پرې راولاړشو که چپه يې سموار
چونګښې بيړی جوړه کړه پخپله يې چلوی
دورځی يوځه مال دی له دريابه يې تيروی
مېږی يې څوکيدارشو سوړه نه ايله کوی
لړم ويل وخت خراب دی په چا نشته اعتبار
لا سونه يې وخندل

. . . . . .

. . . .

(۱)- دبنا ،لی دردمن له شخصی يادا شتو څخه اقتباس شو . عبدالعزيزفراهی يوروند ولسی شاعردی اوسندې يې اکثر انتقادی دی.

ګډې اوږه لانده کړل پتیر یې پخول
یو کوز ددې میلمه و، شکاڼه کورت ور ته ځوول
یوه ګوتهغوږی نهوله موزك نه یې پوره ول
چه پرانګ پرې ا بنکاره شو ټولو ګډ کړلو چیغار
دځایه تښتیدل

. . . . . .

. . . . . .

دخرس سره بوتل وځه شراب یې را نیول
شادویې اردلی وه اڼونه یې کول
غټ اوښ وږی شوی شنه ځو ځان به یې خوړل
آس ویل غوایی ته دلنه څه کوې وښیاړه ؟
ده هیڅ ونه ویل

. . . . . .

. . . . . .

زمری دلاك راوغوښت چه لوی شونی مې سنت دی
شرمش وویل زمریه فتوی څه دعدالت دی!
دسپود غلبلې نه وقامونه په زحمت دی
شغال ډك چلم راوړو زمری ته په تلوار
چرسونه یې څکول

. . . . . .

لیوه سر کوزی راغی څه یې نه کیږی له لاسه
ولاړ غار په خوله کې دواړه ژاړی له سواسه
پیشکه په بام کړزی ورته وګوری د پاسه
پیل دي تا نه خاصه پرتوګ راوغوښته دښاره

غوږونه یې تاوول

. . . . . .

یږه ناسته پاسه کوځ ای څه خولی یې خرڅولی
خنزیر ویلې خودې دای څنګه جوړولې
ببرویلې ورک شیء تاسې ناست یې دلته ولې ؟
خولی یې په خره خرڅی کړې په سم نرخ دبازار

ټکان وویو تر بل

. . . . . .

. . . . . .

ټپوس میلمستیا وکړله راوې غوښتل دوستان
غوندل یې وپه منځ کې خانی هم پسې روان
مزګ پسې راغلی وپه څه سازوسامان
شیږکی کوزه نیولی وه ولاړه په انتظار

لاسونه یې ورمینځل

. . . . . .

. . . . . .

کربوډی سمسري ته ویل څه کوې وړېندارې؟
خیرن لاسونه ګرزې کومې خواته په رفتارې؟
دووی دغه مذکورو شرمښکی راغله له لارې
قچر سویه ملګری سره لاړه تر . . . . . .

ټوپونه یې وهل

. . . . . .

وویل کربوډی چرچری ته چه لغړ یې
نمامه ورځ غږېزې دا په څه بلا ککړ یې
ژرحال راته ووایه چه په څه خبره پریې؟
ملنځ ویل کربوډیه دی له تا ډیره دی سـل وار

دوی ښه وشرمیدل

. . . . . .

راغلله مچې ویل یې اوږه ما بلېزی
که هرڅه ګبین و کړم ماته نه راپاتې کېزی
غالبوزه ده سرزوری خلك ټول ترې ښه بېرېـزی
دې مچ احمق ته ګوره چه خپل سروهی له قاره

خپل ځـان ټکوی تل

ګوره سګلاووته په اوبو کښې تل اوسیږی
حیران یمه دې کارته چه دی څنګه بیده کیږی
ور که ګورلتی کړې سړی کر که ځنی کیږی
یوه میښه تله حمام ته څه صابون یې واخیست یاره
بیایې هلته ولمبل

. . . . . .
. . . . . .

لیوان مې یوځه یاد کړل اکثرپاتې شوه یوهیږم
ګیله به رانه و کړې دایقین دی چه شرمیږم
پیدا دخالق ډیر دی یاره نه پسې رسیږم
بنده یمه عاجزه دګناه په پیټی بار
کوای نسم منزل

. . . . . .
. . . . . .

اصیل پښتون نورزی یم دفراه په علاقه کښې
فشار رابانديې راغی ومه ناست په دایره کښې
جاری مې شاعری کړله په دې لویه میړه کښې
هر څوك چه ځان شاعر بولې یوبل دې کړی ټیار
ددې په ډول بل

. . . . . .
. . . . . .

حافظ عبدالعزیزه باچارب العالمین دی
پیدایې په قدرت سره اسمان اوهم زمین دی

شروع په عبادت کړه چه ورځ تللی ماسپښین دی
دزړه په سترګو ګوره چه پیدا کړی سمه لاره

نژدې راغی اجل

غوږ ونیسی یارانو داعجب شیرین ګفتار

شروع مې کړ غزل

داومی اوحافظ عبدالعزیز فرامی د کلام دمعرفی سره سم زماتصنیف اوویش دپښتو ولسی شاعرانوپه باره کښې پای ته رسیزی اوولسی شاعران په دې دروړلوپه لومړی مرحله کښې ویشم :

(۱) ـ دلنډیوشاعران .

(۲) ـ ټرمی شاعران.

(۳) ـ ازاد شاعران

هیله ده چه په راتلو نکوشپوورځو کښې پښتانه لیکوال دې ستړې او مهمې هنری موضوع ته لازیاته توجه وکړی اوزمانامکمل اوشروع شوی کـار مکمل کړی اوپای ته یې ورسوی .

لیکونکی: قیام الدین خادم

د نبوغ او عبقریت کتاب

کا بل مجله د پښتو ټو لنې میا شتنې نشر یه د ه چه مسئول چلو و نکی ئې ښا غلی محمد صد یق رو هی د ی. زه هم اوس په پښتو ټولنه کښې کار کوم . نو زه اودی دواړه همکاران یو. روهی صاحب د کابل مجلې د سږ کال په (۵۱۳) ګڼه کښې یوه مقا له خپره کړې یده چه عنو ان یی د ی:

« د نبوغ اوعبقر یت کتا ب ته یوه کتنه »دامقاله دعبدالحکیم هلا لی په نامه خپره شو یده لیکونکی داد بیا تود پوهنځی محصل ښود ل شو ی دی. خو په تیرو څو کالو کښې چه زه داد بیاتو د فا کولتی استاد وم- دغه محصل ما هیڅ لیدلی کتلی نه دی- اوهیڅ پیژندګلوی ورسره نه لرم. خوزما ار یانتیا په دې ده چه دوستی اود ښه منی خودواړه د پیژندګلوی څخه پیدا کیږی- نوده څنګه په ناپیژندګلوی کښې زما په کتا ب هغسې خبرې لیکلی دی چه د حسادت لوګی تری پورته کیږ ی. لیکونکی د د ې پرځای چه د کتا ب مطا لب ترد ید - تا ئید یا تحلیل کړی- د کتاب د مئولف په شخصیت لګید لی دی: سپکې، سپوری او کترې بې لیکلی د ی. د ی وائی:

« په دې کتاب کښې ډیر مهم موضو عات را غلې دی چه خادم صاحب ئې د تشریح او تحلیل د پاره ډ یرز یات کو ښښ کړی- اوښه په زړه پورې عنوانو نه یې ور ته ټا کلی دی. دا کتاب ښې خوږې جملې، روان عبارات او احسا ساتی افکارلری.»

دائې د کتروبرخه ده.خوچه په کترو يې زړه نه دی يخ شوی- نو کوتك په لاس میدان ته را وتلی د ی او دا و ينا کوی

« که چاډنيا غلی مئولف نور آثار لوستی وی نو دا به ښه ورته څرګنده وی چه دتواضع اوښو اوبد و په باره کښې ډيری ښی ښی مقالې ليکلا ی شی، ښې ادبی پارچې لری،ډير ښه پاخه اشعار و يلا ی شی-نوځکه دنيو غ او عبقر يت د کتا ب په ليکلو کښې هم دخپلو شاعرانه افکارو تر تأثير لاندې تللی-ددې پر ځای چه د داسې علمی او فلسفی موضوعاتو دنشر يح اوتحليل دپاره يې له علمی او تحقيقی دلايلو څخه کار اخستی وای- اودعلماؤ اوپو هانو نظريې يې سره دخپلو علمی قضاوتو نو څرګندې کړې وا ی له خپل عند ی نظر اوتصور څخه يې کار احستی د ی. »

په (۵۱)مخ کښې په ډير قهر سره دخبرو په تپلو هم نه اړ کيږی او وايی :

« خادم صاحب سا ينس ته هم دشك اوتردید په نظر ګوری او؛ هغه داستعمار چيانو سحر او طلسم ګڼی . »

«خرق عادت ــ سحر- جادو اوداسې نورموهومات دايډيالستانو(البته دنامعقولو ايډ لستانو) د تخيل محصولات دی.»

همد غلته وا ئی :

«نوداد تعجب خبره ده چه يوسړی دې له موره نابغه وز يږی»

په (۵۲) مخ کښې چه بې د کتا ب دعبا را توله حوا لی له ځانه خبر ې جو پوی نوور پسې ليکی :

« زماپه عقيده چه خا د م صا حب غلط پو هيد لی دی.»

په (۵٤) مخ کښې ليکی:

«يو آهنګرته نابغه ويل يو داسې کاردی چه (مؤلف) په کوچنيوالی کښې

دغه آهنګر لیدلی چه تکه سره اوسپنه به یې له اوږو راوایستله۔ اوپه سهاك به یې پر سر وهله اوهرډول چه به یی زړه غوښت(غوښتل یې مراددی) هغسې به یې کړه وړه کوله۔ نوداورته یولوی قدرت ښکاریده۔ دغه خاطرې چه تراوسه یې په تحت الشعور کښې پرتې دی۔ دنبوغ داقساموموضوع د لیکلوپروخت دفعتاً شعوری حالت ته راغلی.اوپه دغه کتاب کښې یې ځان ته ځای پیدا کړی دی.»

په اخره کښې له ډیره تاوه یه هغولویولیکوالو او مؤلفینو هم نه اړ کیږی چه پر کتاب یې تقریظونه لیکلی دی. او وایی :

«معلومیږی چه بناغلی جلالی، قره کی، ناصری دا کتاب نه دی لوستی-یاورته متوجه شوی نه دی. اویوازی یې دعنوانونوفهرست لیدلی،یاداچه رانته د جرأت یې په ځان کښې نه دی لیدلی . »

دلته یې فقط له « مجروح صاحب» څخه لږه ستر ګه سوی ده او لږور باندې ډیل شوی دی.مګر بیاهم معلومیږی چه«مجروح صاحب» تقریظ صمیمی نه ګڼی اوبل قسم تعبیرورځخه کوی. دی داسې ګومان کوی چه مجروح صاحب چه څه د کتاب په باب لیکلی دی چه «په انسانی علومو کښې شخصی تجاربو ته مراجعه اوله هغو استنتاج ډیرډیر قیمت لری چه داپخپله دخادم صاحب پر نبوغ د لالت کوی» دا«مجروح صاحب عقیده نه ده ګوندې؟

له دغه پورته عبارانو۔ طرز-اسلوب- سیاق- او سباق څخه هرچاته معلو میدای شی چه مقاله انتقادی نه ده، انتقامی ده په دې خبره باندې نوردلایل او شواهد هم شته یوله هغوڅخه دادی زه چه دپښتوټولنی سابقه دارغړی یم، روهی صاحب زما مقالې دري ځلور میاشتې ځنډوی اوپه کابل مجله کښې ئې نه نشروی اوپه

مقابل کښې دغسې مقلې پیدا کوی۔ او بی د پښتو ټولنې له مشورې یې په خپل مسئولیت نشروی. که نه وی۔ نو دیومحصل څه سرخوزیزی چه د حسادت او انتقام له احساسه ډ که مقاله د پښتو ټولنې دیور کن پر علیه هغه هم د کابل په مجله کښې خپره کړی. داخبرې که د فاکولتې د کوم استاذ په خوله شوی وای۔ خو یوه خبره مګر یوشاګرد څنګه کولی شی چه د بی موجبه قهر د سړ ولو د پاره د فاکولتې پر استاذانو اس وځغلوی ؟

د نبوغ اوعبقریت کتاب چه په ۱۳٤۰ کال کښې د پښتو ټولنې له خوا د افتخاری غړو په شمول یوې لوی محلس د آ ثارو د تدقیق او کتنې د پاره جوړ شو. په دې مجلس کښې لوی فاضلان اوعلمی اشخاص موجود وو. ما د غه مجلس ته د نبوغ اوعبقریت کتاب د پنځمې امتیازی درجې د (تیز) په حیث وړاندې کړ. په مجلس کښې د پښتو ټولنې د څینی غړو له خوا تاوده مخالفتونه و شول. خرهر کله چه مخالفینو سره څه دلائل نه وو نو د یو کس د سپینې رأیې په مقابل کښې د رأیو په اتفاق د نبوغ اوعبقریت کتاب جایزه واخیسته۔ او بیا وروسته چاپ شو.

خلك د پښتو ادب د پاره کارغواړی مګر مونږ په دغسې بلاوواخته یو.

د دې نه د دې خبرې څرك هم لګیدی شی چه د کابل مجلې چلوونکی څنګه د غومره پــه ډاګ اوعــلانیه دیو (٤۰) کلــن خــدم په مقــابل کــې دغسې اقدامات کو لی شی خو هر کله چه زما نیت صا ف دی په د عسې تحقیر و نو او تذلیلو نو زما حوصله لاتهینګه شوې ده او په دغسې ما حول کښې د پښتو د پاره خدمت د ځان د پاره افتخار ګڼم . و دې شی هر څه چه کیږی.

تر دې ځایه چه ما هر څه ولیکل د د غو یوه معنی ده او هغه داچه زه د بل هیچا سره کار نلرم . زما خبر ې د کابل مجلی د چلوونکی سره دی. هر څه چه په ما

باندې لیکی او نشروی یې - خو ښه یې .خو قانوناً مجبور دی چه زما جواب به هم نشروی . د نبوغ د کتاب اسا سي بحثو نه واضح دی .او داهغه چه (۱) نبوغ څه شي دی ؟ (۲)نبوغ شته او که نه ؟(۳)نبوغ استعداد صلاحیت او اهلیت دی او که فعلیت او عمل - او که دواړه وی نو ارتباط یې څه دی؟ (٤) استعدا دونه فطرتاً متفاوت دی که مساوی .

هر څوك چه د کتاب پر دغو بنیا دی مسا یلو مثبت یا منفي بحث کو لی شی په صراحت باید میدان ته را ووځي . نور خلق ټومبل او لمسول نه علم دی ، او نه پښتو . زه عقیدتاً د ادبی مناظرو پر خوایم او مثمر کار یې کنم . زه دا نه وایم چه په دې خبرو کښې نورې خبرې نشته

مګر ما چه کومه لاره نیو لی ده - نا سنجیده وربا ندې نه یم روا ن شوی . ډیر مفکرین پر دغه لاره هم تللی دی - او دا لاره حق ته نزدې کنم .

اوس ماراشو د مقالې خبرو ته. لیکونکی وایی چه «خادم»د تواضع اوښو بدو په باره کښې ښې مقالی لیکلای شی. زه دا منم چه زه په تواضع قایل یم او «ښه»مې خوښ دی .ښه ده ډیر او کښې یه مقابل کښې به کنځا نه کوم او بد به نه وایم مګر دا هم نشم کو لای چه د نشر شوی پرو پا ګنډه په مقا بل کښې یټه خو له کښینم . ولې دادې دوی ووایی چه دغو کسانو بې له تو ا ضع او ښو او بدو په نورومهمو علمی موضوعاتو څومره کتابونه او اثار لیکلی دی - او چیرته دی؟ د نبوغ او عبقریت موضوع خودتواضع اوښو او بدو له موضا عاتو د دوی په نزد د باندې ده . نو دوی ولې ته شی کولای چه په خپل عقل او مطا لعه ور باند ې بل کتاب ولیکی؟

او د نبوغ قائلان په مقنعه دلایلو له انسانی نبوغه منکر کړی . ایا دنبوغ مسئله دوی ته دومره سر سری ښکاری چه «د نبوغ او عبقریت کتاب ته په یوه کتنه» فیصله کیدای شی ؟

لیکونکی وایی کتاب مې لـه سره تر پایه و لوست . بیاوایی چه مؤ لف ولې نه دې کړی چه شا عرانه افکا رو په عو ض ئې د د ا سی علمی او فلسفی موضوعاتو د تشریح او تحلیل د پاره‌علمی‌او تحقیقی دلایلو څخه کار اخستی وای او د علما ؤ او پوهانو نظر یې یې سره له خپلو قضاوتونو څر ګندې کړی وای د لیکو نکی وروستنی‌جملی دده د اولې جملی تکذیب کوی .

که ده کتاب سر تر پایه لوستی وای. نوور معلومه شوی به وه چه په کتاب کښې د څومره علما ؤ او پوهانو نظریې رااخستل‌شوی او د هغو د نظریو تردید یا تثبیت د موجوده افکارو او علو مو په رڼا کښې شو ی دی . ده ته خو په یوه کتنه دغه حقیقت‌په نظر نه دی ورغلی دغه دی‌په دوهم محل یې زه ورښیم:

ودې کتل شی څلورم مخ چه څومره‌حوالې پکښې دی.

د (۹) مخ مضمون بیا لوستل په کار دی منطقی استدلال د بد یهیاتو حد ته رسول شوی او نظریات د مسلماتو په واسطه حل شوی دی اقتبا سات او حو الې هم پکښې دی .

د(۱۷)مخ مقاله هم دعصر دمسلماتو پر استد لال بناده .

د(۲۱)مخ مقاله د(کابل) مجلې نه اخستل شوی‌او پکښې پیرې‌حوالې‌دی

د (۲۵) مخ مقاله باندې مې بیا غوروشی چه دځومره لویو حکماؤ اقو ا ل او احوال پکښې را نقل شویدی .

د(۲۸) مخ مطالب هم په حوالو بنا دی .

د(۳۰)مخ دمقالې مطالب دنوابغو په احوالو کښې مشروحاً ذکر دی . اودا دومره مشهور دی چه ذکر یې کفایت کوی .

د(۳٦)مخ مقاله له الهلال څخه ترجمه‌شویده چه حوالدلری‌اوډیره‌مستنده‌ده،

د(٤٤)مخ مقاله دډیرو کسانو داقوالو په استناد بناده حوالې پکښې دی .

د(٤٦)مخ دمقالې مطالب دلویو کسانو په اقوالو بنادی چه‌حوالی‌پکښې‌دی .

د(٥٠)مخ دمقالې‌ټول‌مطالب‌دنوابغودسوانحوپه‌استنتاج بنا دی‌حوالې‌پکښې‌دی،

د(٥٧)مخ‌دمقالې مقاصد دطب او نفسیاتو په مسلماتوبنادی .

د(٦١) مخ مقاله د(کرینټ) له مجلې څخه ماخوذه ده حواله لری .

د(٦٨) مخ استنتاج زما خپل دی .

د(۷۰)مخ دمقالې حاصل دبرټرانډرسل سوانح دی ماخوله ځانه نه دی جوړ کړی . پکښې دلو یو فلاسفۀ اقوال دی .

د(۷۳)مخ مقاله«دنبوغ‌مخالفت» دکارلایل اوهلی دشتی» په اقوالو بناده په اخره کښې پر دغو افکارو زماله خوا نقد دی .

دکتاب په اخره کښې دهغو نه شپیته کسانو فهرست دی چه په دې کتاب کښې یې ذکر دی‌په دغو کسانو کښې له زرد شته نیولی تر عبدالغفارخانه‌پورې لوی واړه او متوسط نوابغ او رجال ښودل شوی دی .

په تیرو (۳۰) کالو کښې دافغانستان په مجلو او اخبارو نو کښې دنبوغ په باب ډیرې ترجمې اواقتباسات نشر شوی دی چه خلص مطالب یې په کتاب کښې ځای شوی دی . دغه تراجم له الهلال ـ المقتطف او نورو شرقې اوغربې مطبوعاتو څخه شوی دی .

پس له دې غواړو وچه دمقالې په مطلبی خبرو و غږیږو چه لیکونکی ورته

علمی وایی . دا علمی خبرې فقط څلور دی :

(۱)ـ استعداد و نه خلقتاً متفاوت دی که مساوی ؟

(۲)ـ دنبوغ استعداد فطری د ی که کسبی ؟

(۳)ـ له نبوغه ولی انکار کاوه شی ؟

(٤)ـ ملنګ جان ملی شاعر او شیر زاده پښ ته نابغه ویل شوی دی .

اوس غواړم چه دپورته څلورو مطالبولـه کښته څخه پورته په ترتیب جواب ووایم . دی وایي :

« ملنګ جان اوشیرزاده پښ او سکندر اهنګر د نو ا بغو له جملې څخه شمیرل شوي دی بیاوایی :

دابه ومنم چه ملنګ جان دعوامو شاعرانو په ډله کښی راتلای شی . نو که څوك ملنګ جان ته دنابغه خطاب و کړی دا معنی به ولری چه تقریباً هر شاعر نابغه دی .

وورسته وایی خایفه سکندر اهنګر ته نابغه و یل له حقیقته لرې خبره ده . څنګه به نابغه ورته ووایو ؟

سکندر ته نابغه ویل دنوابغوشان اوعصمت ته توهین دی.»

په(۳۱) مخ کښی زماعبارت دادی« هودا خو کیدی شی چه سړی په ډیرو عمرونو ډیرو زحمتونو یوفن اوهنر یو ځای ته ورسوی . مګرداد هر چادپاره قطعاً ناممکنه ده چه همدغسې بی زحمته بی سعیی-بې استاده پخپله او دطبیعت اودمزاج په سوق دتوکل-میرا- نورالدین-ه-لانعمت الله- سید کمال- غریبی اوملنګ جان غوندی شاعرشی همدغه شان ډیروخلکو پوزه توره کړې یده اود اهنګری په دکان ناست دی. خود چپر هار شیرزا ده اود اهنګری خلیفه سکندر رخرد هر چانه

جوړ پدا ی نشی . »

زما له عبارتودغومره استنتا ج کید ی شی چه ځینی طبیعتونه له ځینی کاروسره فطرتاً تناسب اوجوړ نښت لری.

سهوه په دی ځای کښی ده چه ملنگ جا ن دا قبا ل سره مقایسه شی. اوشیر زاده د مو جو ده عصر دتکنا لوجی سره مقایسه کیږ ی. زما خبره په فطری صلاحیتونو کښې ده فطری استعد ادو نه متفاوت دی. دهرچا تولد خپلوا نده ولا نوسره په کا ر دی . کو می جا یز ې اولمبرو نه چه،لمنگ جا ن او شیر زاده په خپلی بیسوادی کښې واخستل با سواد انوولی وتاخستل. زه په نبوغ کښی مد ارجوته قایل یم. اوبله داچه نبوغ وازې دحیات په کومی مخصوصی خوا پورې اړه نه لری . له حکما ؤ اوفلا سفه ؤ څخه بیا فنکارا نواوصنعتګرانوا و کسبه ؤ پورې هر څوك پکښی لږ وډیره برخه لری.د نبوغ د مدار جوله حیثه افلا طون خپل ځای نیولی دی . اوموزارت خپل ځای.په دې باب کښی وروستی خبره داده چه لیکونکی په نبوغ قایل دی کډیه؟ که قایل وی خوزما اود ه په منځکښی اختلاف نشته که نبوغ منی نوارومرو به یی مدارج هم منی. او که منکر وی نو په خپلو عباراتودې غورو کړی. دی په عین انکار کښې په نبوغ قایل شوی دی لکه چه وایی « سکند رته نابغه ویل دنوابغوشان اوعظمت ته توهین د ی. » د غه شان د ده سرینده د ده دنغمې سره توافق نه کوی.

(۲)ـ له نبوغه ولې انکار کاوه شی؟په کتاب کښې دایوه پرخوږ بحث دی ـ خولیکونکی په بله خوا اړ ولی دی. زه وایم چه نوا بغ له حق، راستی اوحقیقت څخه نه اوړی اودانورعادی خلك هر پلواړول کید ی شی نو که مغرضین اواستعمار چیا ن دحق نما نځونکو په مقا بل کښې عاد ی خلك وډ روی نوله عقله به هیڅ بعید ه نه وی.

لیکونکی وایی «استعمار چیان په نژادی تفوق قایل دی .دوی د انسانانو په مساوی استعداد (عین استعداد) قایل نه دی .دخلکو په مشروعو حقونو متر کې یتوی.»

دلته لیکونکی دحق او استعداد په منځکښی فرق نه کوی حال داچه حق بیل شی دی او استعداد بیل .دلته له یوې خوازما مطلب تسلیموی. چه وائی استعمارچیان د خلکو مشروع حقوق سلبوی. خوزه هم همدا وایم چه دوی جاهلان پالی. اود طبیعی استعداد خاوندان پاملوی دلیکونکی داخبره چه دوی طبعاً څانونه بادارانو مستعده کړی او نورو ته په محکومیت قایل دی .» داخو زور او قوت خبره ده نه د طبیعی حق او استعداد.

(۳)- دنبوغ استعداد فطری دی که کسبی ؟ددی سوال په مقابل کښی وایی چه «نوابغ له اسمانه څخه نه رالویږی» بیاوایی «نابغه محیط اوشرایطو نابغه کړیدی.» ولی محیط اوشرائط کوندی له فطرته بیرون شیان دی .دی څه ګمان کوی چه فطرت دڅه شی نوم دی- دیوانسان دخلقت (جبلت) له کومه څایه رالویږی، دغه جبلت ټول استعداد ادونه نقلوی که یه، دغه جبلت فطری دی که کسبی، وروسته وائی. «خرق عادت نشته. په دې باندی نا معقوله ایډ یالستان قایل دی » په دی څای کښی زه دومره پوښتنه کوم چه لیکونکی اوناشرد دې عبارت په معنی پوهیږی که نه، معجزه څه شی دی، او په معجزه باندې چه قایل دی- هغه کسان څوک دی؟ (۱)

« دادته عجب خبره ده چه یوسړی دې له موږه نابغه وزیږیږی اوله عالم اسباب څخه د ې مستغنی وی.» که زماله دا فکارواو کتاب څخه ده داخبره ثابته کړه چه زه نابغه هغه چاته وایم . چه له موږه نابغه وزیږی اوله عالم اسباب څخه مستغنی وی.

---

(۱) دلته دنامعقول یاغیر معقول اصطلاح داروپایی (Irrationalist) ترجمه ده چه دعلماؤاو حکماؤله خوادهنه چاپه مقابل کښې استعمالیزی چه عقل دحقائقو دموند لومیارنه ګڼی. اداه د

نو یقیناً به زه په غلطه یم. او که ثابته یی نکړه نو په خپله سهوه دې اعتراف وکړی. ماویلی دی چه داستعد ادونو تفاوت فطری دی. خو داستعد ادونو بروز او انکشاف طبیعی شرایط او اسباب غواړی که میسر نه شی نو استعد ادضایع کیږی. لکه یو تخم ته چه دشنه کیدو شرایط او اسباب مهیا نشی اوضایع شی. قول کتاب په دغه بحث ډیر دی. د ی څخه وائی چه ما کتاب په غور مطالعه کړی دی. په همد غه بحث کښی وائی چه د اجتماعی مئوسسات دنبوغ دپاره لازم دی. که نابغه په کوچینوالی کښی له جامعی څخه جلاشوی وای یا په داسی ډول تربیه شوی وای چه چاخبرې نه ور سره کولای. زمونږ بیچاره نابغه به خبری هم نشوای کولای. »

له دی عبارت څخه په وضاحت معلومیږی چه لیکونکی استعد ادنه پیژنی. دی داستعداد او فعلیت په منځ کښی اشتباه کوی. زه وایم چه په همد غه حالت کښې چه زمونږ نابغه له جامعې څخه جلاپاتی شوی وای - نو هم بالقوه نبوغ خو به ورسره وی. دفعلیت دپاره خو زه هم په شرایطو قایل یم مثال بې داسی دی لکه قوی اومتکامل تخم او کمزو ری اوضعیف تخم چه شنه نشی خو د واړه ضایع شی. او که شنه شی د شرایطو په لحاظ هر یو خپل استعد اد په اندازه وده کوی. او کمزو دی د قوی ځای نشی نیولای. دا خو یوه تجربوی مسئله ده. مګر د تساوی طرفداران به دا هم نه منی ګومان کوم.

(٤) ایا استعد ادونه منفا وت دی که مساوی؟

د کتاب د ټول بحث مرکزی ټکی همدا دی - چه آیا هر څوک هر څه کیدای شی. او که نه وګړی په تفاوت او بیلو بیلو صلاحیتونو او قابلیتونو پیدا کیږی ایا هر دماغ دا قابلیت لری چه بالفرض دیو ډول شرایطو په اثر یو قسم فکر او سنجش وکړی شی فیز یکی اوجسمانی ساختمان په عاقله حافظه - قابلیتونو او استعد ادونو اثر لری

او کهنه؟ مثلاً دغه د قوی او خارق العاده حافظې خاوندان ـ اودغه د تیز او سریع الانتقال ذکاوت او فکر لرونکی اودغه ژور او عمیق فکر کوونکی اودغه دلې حوصلې اولوړو عزایمو والا افراد اودغه نارام اوته ستړی کیدونکی طبائع ـ دغه چه خلک جوړوی اوهغه چه خلک ورانوی دغه چه په ځان کښې اوهغه چه په جهان کښې فکر کوی ـ دغه چه خلک خوری اوهغه چه د خلکو غم ..... دا اودا ډول نور تفاوتونه د شخصیت د اصلی خټې سره څه ارتباط لری ـ او کهنه د اټول صلاحیتونه، قابلیتونه او استعدادونه د فرد په بیرونی اومحیطی شرایطو بنادی ذاتی جوهر ـ خټه فیزیکی او جسمانی ساختمان هیڅ فرق نه لری ـ شخصی طبیعت په ټولو افرادو کښې مساوی او یو شی دی ؟

ددې سوال د حل د پاره دمقالې لیکونکی او استاذې هسې د عقلیت او تجربیت په بحث لګیا شوی دی ـ مونږ دا ډول وایو چه همدغه د اسیونالستان او همدغه امپریستان ټول په یوه سویه اویوه اندازه اویومعیار د کشف ـ اختراع او حقایقو د پیژندلو د پاره فطرتاً یوقسم پیدا شوی دی او کهنه ـ څوک خوردی ـ څوک من او څوک خرواردی ـ زه منم چه دا مسئله غامضه ده ـ مګر د عقلیت او تجربې د دواړو ډلو طرفدار و حکماؤ تقریباً دا منلې ده چه د افراد و په فطرت ـ خلقت ـ قابلیت او استعداد کښې فرق دی مګر د مقالې والا او د ده مشاورین خوشی د (معلوماتو) په بحث او هم دی معلومات ـ علم او علم ډیل ډیل څیزونه دی عالم د علم خاوند دی علم ادراکی حالت دی او معلومات هغه صورتونه دی چه چه ذهن ته حاصلیږی ـ دمقالې په عباراتو کښې د فطری معلوماتو کلمه راغلی ده ـ یعنی دا چه معلومات فطری دی که یه ـ اخبره دومره بیځایه ده چه څیړل یې هیڅ موردنه لری ـ معلومات معانی دی چه په خارجی موجوداتو او مصداقاتو اړه لری او د خارج نه اخذ د حواسو په

ذریعه امکان لری نو که څوك لږ هم دعلم په پوله ټیر شوی وی. څنګه ویلی شی چه معلومات فطری دی که نه؟ څکه چه فطرت هغه صفت ته وائی چه هر موجود پرې دخلقت په اول وخت کښې موصوف وی. فطری څه ؟ یعنی «خلقی» نو دخلقت په ابتداء کښې چه ظاهری او باطنی حواسولا تخم نه وی زرغون شوی، څنګه کیدی شی چه عقل «دغو حواسو په ذریعه له مصد اقو څخه معانی او له معانیو څخه ثانوی معقولاتو ته انتقال وکولی شی ....

بې منطقه ګړیدل څه په کار دی ؟

هودا خبره ئې سمه ګړیده چه « بې له زد کړې څخه هیڅرك هیڅ معلومات نه لری» خوزمونږ بحث دلته هم نه دی بحث دلته دی چه په زد کړه او تحصیل هرڅرك دهر چا مقام ته درسیدو صلاحیت او امکان لری که نه؟ په دې باب کښې دمقالی لاندې عبارات داوستلو دی :

الف- روسو ویلی دی: خلك یو تر بله مساوی دی. اودهریوه انسان په فطرت کښې بی انتها لیاقت او نامحدود قابلیت موجوددی.

ب- ټول خلك مساوی دی- اودطبیعت دپیژندنې قابلیت لری. دغه قابلیت او استعداد یوازی فیلسو فانو ته منحصر نه دی.

ج- څینی پوهان ثابتوی چه دیوه فیلسوف اویوه عادی سړی ددماغ په ساختمان کښې هیڅ فرق نشته. دعادی شخص دماغ اودیونابمه دماغ دواړه کولای شی چه خارجی منبهات په یوه شان ثبت کړی.

پرد غوجملو او کلیاتوزمونږ ملاحظات دادی:

الف -« خلك یو تر بله مساوی دی- اودهر انسان په فطرت کښې بی انتها لیاقت او نامحدود قابلیت موجوددی.» زه دلته په دې فکر نه کوم چه دا خبره چا کړیده

مرچاچه کړی وی زه داوایم چه فرد فطرت ـ خلقت او استعداد جسمی او جسمانی څیزدی که نه؟ که جسمی او جسمانی څیزوی نو جسمانیات خوتول متناهی څیزونه دی ـ نو څنګه غیر متناهی اولامحدود کیدی شی؟ بله داچه غیر متناهی په متناهی کښی څنګه را تلای شی؟ او که جسمی او جسمانی نه وی نو ماوراء المادہ څیز به وی نو مقابله لیکونکی او ښود ونکی بی په ماوراء المادہ منلو قایل شول ـ او په دې وخت کښی دوی ایډیالستان وګرځیدل او ایډیالستان خو دوی په دوه قسمه کړی دی ـ : معقول او نامعقول ـ نو دادې دوی پخپله ووائی چه هوی په کومه ډله کښی دریزی . رابه شومد عاته ـ نو که رشتیا دغه جملی دروسووی نو یا به داخبرې فردته نه بلکه نوعی نه راجع وی . او یا به در وسو دغه جملې اد بی قیمت لری نه سائنسی .

ب ـ « ټول خلك مساوی دی ـ اود طبیعت د پیژندنې قابلیت لری . »

داجمله زمونږ د بحث د مرام تردید نه کوی . دا دایسې یوه جمله ده لکه ارسطو چه ویلی دی « هر انسان د علم اود کتابت د صنعت قابل دی . »

ج ـ « د یوه عادی سړی او دیوه فیلسوف د دماغ په ساختمان کښی هیڅ فرق نشته . داد واړه د ماغونه خارجی منبهات په یوه شان ثبتولای شی » دا خبره دنورو تحقیقاتو له مخې نه ده سمه ـ نن ورځ ذکاوت پیمانه کول ما ئتهفیك کار ګرځیدلی دی . مراجعه دې وشی د کتاب (٦٥) مخ ته هلته لیکل شوی دی « دیونا بغه د عادی ذکاوت درجه (٦٠) ده داین شتاین او کوئتی د ذکاوت درجه (١٦٥) ده « برین » د ذکاوت درجه (١٨٥) وه اولکه چه دا ډیسون له حافظی څخه عکاسی شوید ه ـ دده د نبوغ درجه هم (١٨٥) وه »

علاوتأدد ماغ د سطحی خطونه او کونجی د عقل او ذکاوت سره پوره ارتباط لری اود دماغ غونود سطحی دغه خطونه په یوه شان نه دی .

په دې باب کښې نوري هم ډيرې خبرې شته چه څه ئې دادلې

(۱)ـداصلاح په (۹۸٦۹) کښه کښې دعلوموډفاکولټی استاذ اومعاون دوکټور احمد شاه جلال لیکلی دی «دانسان دنطفې جینونه ټول د وحې اوجسمانې استعداد ونه په وراثت سره نقلوی ..»

(۲)د کابل مجلی د(٤۹٤) ګڼې په (۸) مخ کښې لیکل شوی دی «اګوست کانفرانس: ژوندی دمړوله خوا اداره کیږی. یعنې ژوند وانسانانو ته د مړو خواص په میراث پاتې کیږی .

لامبر زو ایطالوی عالم وراثت د مراتبو دسلسلې له حیثه د فطرې خواصو په سر کښې ګڼی ».

(۳)ـداصلاح په (۲۵ ـ ٥ ـ ۱۳٤۱) ګڼه کښې دوکتور احمد شاه جلال لیکی: «د دوه کسانو یادوه نژادونو په منځکښې کوچنی او غیرمرئی تفاوت ونه د مختلفو جینونو داغیزې په اثرمنځ ته راځی چه ادراک یې څه اسانه کار نه دی.»

(٤) هغه وخت چه دروس مشهور ادیب اوفیلسوف چرونیشفسکی (۱۲) کاله په زندان کښې تیر کړل. نود هغه ځای نظامی قوماندان ورته وویل چه باید دعفوی او بخښنې غوښتلوعر یضه ولیکی ـ ده ورته وویل «زه د څه ګناه دپاره عفوه اوبخښنه وغواړم. ټش په دی چه زما د دماغ ساختمان د ژاند ارم درئیس» شوا لوف « د د ماغ د ساختمان څخه متفاوت دی »

(٥) دثقافة الهند یولیو ۱۹ ګڼه کښې پروفیسر همایون کبیر لیکلی دی «داواضحه خبره ده چه دعبقری دوجود علت بیانیدای نشی. نوعبقریان هغه کسان دی چه کله کله عالم دد وی په وجود نیکبخت کیږی . د دوی دپاره لوی شی پخپله د دوی نفس وی چه دقوم اوملت په هغو عواطفو ـ مشاعرو لوا حساساتو پوه ډیزی چه په ذره

کښې يې لرى-ياڅې په خيال کښې تيريږى -دوى پرې پوهيږى او که نه- نو دغې مبدې په بر کت دعبقرى اودده دملت په منځکښې کلك ارتباط موجودوى اوپه دې باندې عبقرى په خپل ژوند کښې مزه اخلى. نوقوم دعبقرى په اقوالو او افعالو کښې خپل احساسات او مشاعر په داسې شان مجسم کورى چه بې له ده څخه يې د اظهار بلدلاره نه وى. نو دغه ارتباط عبقرى تغذيه کوى اوله دې لارى دده حيات اواحساسات تقويه کيږى.»

(٦)- د ١٣٤١ کال د اسد د مياشتې د (٢٠) تاريخ په اصلاح کښې دوينې د کروپونو په باب يو دلچسپ مضمون نشر شوى دى. وايى چه دوينې کروپونه بيل بيل خواص لرى يو دبل سره نه کږيږى او چه کوم شى ضرر اوحتى مرګ ته منجر کيږى. تر دې چه که دښځې اوخاوند د وينې کروپ مخالف اومتضادوى نو دد وړاو په منځکښې موافقه ناممکنه وى.

دغه مضمون يوه برخه داده- هغه پله اشخاص چه د (١) وينه لرى دوى تر هم اهنګه اشخاص ويل کيږى. ځکه چه دوى د ټولنې دانتظام سره سازش کولى شى او که بې نظمى پيښه شى- فوراله کارولاس اخلى- او پريږدى يې. خود (ب) کروپ والا چه دهر ډول پيښو سره مخامخ کيږى- د خپل عقل ذکاء اوپوهى څخه کارا خلى خپلەلار تعقيبوى- اوددوى په پروګرام کښې هيڅ تغيږنه راځى. د (١) وينې خاوندان هغه اشخاص دى چه مينه اواحساس لرى. خود (ب) کروپ والا خلك مفکرين او د سنجش خاوندان وى. (له فرانسوى منا بعو څخه)

داستعداد دونو اوقابليتونو د تساوى خبره يوه داسې خبره ده لکه چه سړى وړ ايى نمر- سپوږمى -زهره اومشترى اود کهکشان ستورى ټول ستورى دى داستعدادونو عينيت ددې عصر ددا نش او پوهى له مخې رد شوى خبره ده. په حقيقت کښې طبيعت په خلقت کښې د تساوى اوعينيت نه چوړ مخالف دى البته تساوى په حقوقو کښې

وه سیاسی مسئله ده چه دنیا منلی ده. مګر استعداد اوحق بیل بیل شیونه دی.
داستعدادو ودتفاوت اودحقوقودمساوات په باب پښتنوسره جلامفکوره موجوده ده.
مونږ داوایو چه لوړ استعداد اداو صلاحیت خاوندان زیات مسئولیت لری. اوباید
چه زیات کار ـ فداکاری او ایثارو کړی مګرحقوق بهمساوی اخلی ځکه زمونږ
په روایاتو کښی مشری په خدمت اوزیاتایثار بناده.

مشران دکشرانو په خدمت اوروزنه مکلف دی

په دې لیکنه کښی مقصد دادی چه دا کتاب په پټوستر ګولیکلی شوی نه دی. په عمیقو
اجتماعی ـ نفسیاتی اوفلسفی مبادیو ولاړ دی. چه لوستونکو ته ورنه پوره فائده
رسیدای شی. البته په خبرو کښی خبرې شته او وی به. خودنن عصرفکر دغه ځای
ته رارسید لی دی چه په نبوغ اوعبقریت کښی وربانده ی بحث شوی دی. پوهیږم
چه د صباعلم به دغه خبری شی وا ضحه کړی. بیابه څوك نشی کولای چه لویان
واړه ـ او کو چنیان لویان وښیی. اوپه خپرو اوبو کښی کبان ونیسی. «انتها»

.....

یادګیرنه: کابل مجلې پښتو ادب ته دخدمت په غرض، همیشه تخلیقی او تحقیقی
موضوعات خپاره کړی دی اوزیاریې ایستلی دی چه په پښتوادب کښې دانتقاد (Criticism)
لارپرانیزی همدارنګه د پښتوژبې ـ پښتنی کلتور اودپښتنی ادبی رجالود معرفی
د پاره یې مؤثر ګامونه اوچت کړی دی او دخپلو هیوادوالو داستفادې د پاره یې
علمی او اجتماعی مضامین نشر کړی دی مخصوصاً په دې وروستیووختو کښې
د ادبی انتقاد خواته زیاته توجه کړی ده خوله بده مرغه زمونږ اکثر
لیکوال دانتقاد له فن سره لکه څنګه چه بایی اشنا نه دی

زه دامنم چه تر اوسه پورې زموږ په لیکنو کښې په سلو کښې سل خالص اوصادقانه انتقاد پیر کم لیدل کیږی او همدا رنګه کوم لیکوال چه دانتقاد په معرض کښې واقع شی. هغه په دښمنی او شخصی اغراضو تعبیر وی. البته دد ې خبرې علت واضح اوښکاره دی اوهغه داچه مونږ په دې برخه کښې ابتدایی ګام پورته کوو. او ابتدایی ګامونه کلك او مضبوط نه وی. کابل مجلې د پښتو مشهور و لیکو الو دمعرفی په سلسله کښې دهیواد د پیاوړو ادیبانو لکه ښاغلی رښتین. ښاغلی بینوا. ښاغلی خادم او ښاغلی الفت پر آثارو اولیکنو باندې انتقادی تبصرې اومضامین خپاره کړی دی. مونږ ته دامعلو مه ده چه په مترقی هیوا دونو کښې پر ټو لو مهمو آثارو اوعلمی شخصیتو نو انتقادی مقالې لیکل کیږی اوهغه آثارچه له انتقاد څخه پاتی شی. دخلکو په نظر ارزښت نه لری. دهمدې اصل پر بنامونږ په مجله کښې دعلمی اوادبی انتقاد د پاره دروازه خلاصه کړه ـ او علمی او ادبی انتقادونه موخپاره کړل خوددې انتقاد ونودځینو جملو په مقابل کښې عکس العملونه راپیداشول او په دې وسیله یې موږ خپلو نیمګړتیاو ته ملتفت کړو هیله لرو چه په راتلونکی کښې به د خپلو همکارانو اوپوهو لیکوالو په مرسته اولار ښودنه دمجلې انتقادی برخه ډیره ښکلی اوسپیځلی شی. موږ هروخت دانتقاد اوریدلو ته حاضریو ـ ځکه چه بې له انتقاد څخه پر مخ ګ اوترقی منځ ته نشی را تلا ی. دعامی اوادبی کره کتنې دروازه چه دمجلې له خوا پرا نستل شوې ده دعلمی او ادبی کره کتونکو پرمخ به خلاصه وی اود انتقاد وفن دتعمیم او ترو یج د پاره به مقد ماتی خدمت و کړی د مجلې اداره پښتو لیکوالو ته بلنه ورکوی چه ترټولو دمخه پرموږ باندې انتقاد و کړی اودعلم اوادب دخدمت د پاره له موږ نه خپله مرسته او همکاری ونه سپموی. په درناوی (دمجلې چلوونکی)

افغانی کوچنیان دخاریو په روزنه‌کښې له خپلی کورنی سره مرسته کوی،

ګویته

-۳-

دډرامی کار کوونکی: ایګمونت دیوه عالی روح خاوند سړی وچه دفرمانروایانو نه یې عزم اوثبات ډېر لوړښکاری- دی دیوې ښې اوښکلی بشرې خاوند - میړنی- اودډولومادی اودنیایی نعمتونونه بی برخې سړی دی خوژوندیې ډېرشرافتمندانه- اودازادی غوښتنی پهاحساساتواو افکارومین دی اوسربیره پردې دمینې په نړی کښې دیوه خوښزړه خاوندانسان دی. دریګنتین- اورانهن اوالبا کر کټراوشخصیت ډرامې داستان تشکیلوی ځکه دوی د کر کټرله حیثه بالکل اوباتقریباً د(اورانین) دایګمونت سره مخالف دی داډرام په نثر لیکل شوی دی خوپه ځینوځایو کښې شعری آهنګ هم اری اوداد هغه وخت اثاردی چه ګویته په خپل کلاسیکی موقف کښې په ویمارWeimar کښې لیکلی د ی .

دایګمونت د کتاب ادبی ارزښت : دایګمونت د ډرا می زیاته برخهدشتورم او درنګ یهوخت کښې لیکل شویدهاودغه برخه پخپل وخت کښې بی ساری ګڼل کېږی وروستی برخه یې ددې پهعکس د کلاسیکی د وري اثردی. ګویته په دې ډرامې کښې دترا ژیدی ډراموادد استانواصلی قدرت ښودل غواړی شیلرSchiller د ګویته په اجازه ددې ډرام د ښود لوله پاره هڅه کړې وه خود ده کارد ډرامې دمخې ډېر ښه ښودل شوی دی اماد لفظ اومتن لهمخې څهاندازه نقصانمن شوی هم دی.

بیتهوفن هم دایگمونت په هکله یوه پرښه اوخو ډوره موزیك جوړ کړی دی .

دګویټه یوبل ډرام چه په ایټالیی کښې یې پای ته رسولی دی اوه په شپږ لرې هغه دایفی ګینی اوف تاوریس Iphigonie auf Tauris په نامه یاد ښې . ګویټه د غه درامه په کال ۱۷۷۹ په وایمار کښې شروع کړې اوه ۱۷۸۷ کال کښې بې په ایټالیی کښې پای ته رسولی ده . د دې ډرامې دلیکلو محرك هغه او پراوه چه دایفی ګینی این او لیس Iphigenie in Aulis په نامه یادیده .

دهمدی وخت یوه بله ډرامه دتور کو اتوتسو Torquato Tasso په نامه یادښې دا ډرامه هم دمخکینی- ډرامې په شان په پنځوپر دو کښې لیکل شوې ده. په دې ډرامې کښې ګویټه غواړی چه د غمز پلو شاعرانو د ژوند اوځوانی په هکله وژغوښې. د دی ډرامې لیکل په ۱۷۸۰ کښې په وایمار کښې شروع او دایټالیی دبیرته راګرځید لونه وروسته په ۱۷۸۹ کښې پای ته رسیدلی دی .

فاوست (دګویټه بین المللی شاهکار)

Faust

لومړی برخه : ۱۷۰۸ع

دوهمه برخه : ۱۸۳۱ ع

له شپیتو کلورا هیسې ګویته په دې اثر باندې زیار ایستلی دی سره له دې چه په کلونه یې ترمینځ تښ باتې شوی او ګویټه نشوه کړلای چه یه دې کلونو کښې دفاوست کتاب ولیکی مګر له دې ټولې کیدو سره بیا هم دغه اثر خپلې نهایی ودې ته رسیدلی اوپه ښه اثر ترې جوړ شوی دی .

ددی اثر لومړنی محرك د المان دوډو کو چنیانو یو نمایش وچه دغه ځکو دلوبو په

ډول ګوښته ښودل شوی و (١) اوښایی دا امکان هم وی چه دیوې ملی او محلی ننداري په ترڅ کښې ګوښته ځه ددې اثر د لیکو خیال پیدا شوی وی

په ١٨٠٠ کښې چه ګوښته په ابتکاری اشعارو کښې مخکښې تللی و دفرانکفورت دهستوګنې پهموده کښې بې له کیمیاګری سره هم علاقه پیدا کړه په ١٧٧٤ کښې دفاوست ډرامې لومړنی پر دې دشتودم اودرنګ په ادبی سبك ولیکل شوې

فاوست یوفرا ګمنت دی . (٢) دپخوانی فاوست دصحنې دلیکڼې وروسته دغه کار څه موده پاتې شو . وروسته په اینالیې کښې ګوښته د جادوګر ومطبخ په نامه دیوې صحنې په لیکلو بیا دفاوست اثر شروع کړه او تر هغه ځایه پورې ورسید چه ګرینچن Gretchen (٣) په بندې خانې کښې وه.

دشیلر سره د ملاقات او کتنې څخه وروسته ګوښته په ١٧٩٤ ع کال کښې بیا فاوست ته متوجه شو. دا اثر دوه برخې شوچه یوه برخه یې دمیلنا Helena صحنه وه اوبله یې دشیلر دمړ ک څخه وروسته په یوه نوی سبك یوې صحنې لیکل دی. دري کاله وروسته دامجموعه میدان ته راووته (دلته مقصد دفاوست اثر نه دی بلکه عمدا ځینی صحنې دی چه خلك یې له لیکلو نه خبر شوی دی) .

فاوست: لومړی تراژیدی برخه (١٨٠٨): دارغړنی فاوست صحنې چه شاړسوته رسیدې وروسته پنځه ویشتو صحنو ته ورسیدې، په دې کښې داسمان پرولوګ په نامه یوه صحنه هم داخله شوه اوروالپوګیس دشپې صحنه هم وروسته ضمیمه شوه. ددې صحنو فورم اوترتیب په آهنګ داره نثر او شعر لیکل شوی دی. له ١٨٢٣ ع کال څخه وروسته

«١» دوروډې رازلو بواو نندارو ته Pupenspiel وایی.

«٢» Fragment یواثر چه ختم شوی نه وی.

«٣» Gretchen یوه وفاداره اودیوې لوڼې کورنی پیغله نجلی ده چه له فاوست سره یې دملګرتیا په ترڅ کښې یوزوی پیدا کړ.

کوبته غوښتل چه دفاوست نامکملي برخي پای ته ورسوی کومي برخي چه په دي وخت کښي لیکل شوی دی په دغو کښي درو مـا نتیك اغیزي په پـو ره ډول څرګند یدای شی هغه صحنې دادی :

هغه صحنه چه شیطان پخپله ځان مسخره کوی اورتی ـ بله دو الپورګیس نخت یوه ادبی مسخره کوونکي صحنه ده ـ وروسته بیادزمبولیك Symbolik دسبك مواظبت هم ښیی ،وروسته تردي په ۱۸۲۰ع کال کښي یې دهیلنا صحنه پای ته ورسوله .په ۱۸۳۱ع کال کښي ګوښته دانامتواثر پای ته ورساوه اوله مرګ نه یې لږ وروسته خپور شو.

فاوست : دوهمه تراژیدی برخه په پنځو پردو کښي لیکل شوې ـ .

دفاوست داشعار وداستان: شاعروایی ـ دا اثر ډو ډې شوې بهې لری او په یو وارنه دی لیکل شوی. دیخوانیو مینو ـ معشوقو او ملګر وزاړه تصویرونه دی چه دوی پخپله مړه دی مګر روح یې ژوندی پاتې دی . البته کومو کسا نو چه شاعرته یې الهام ورکړی او دیوه شعر دویلو سبب ګرځیدلی دی نن په قبرونو کښی آرامه پراته دی او په بلې نړۍ کښي د ی

فاوست او تیاتر : دیوه تیاتر آمر او چلوونکی ـ شاعر او نندار چی درې اساسی کسان دی دوی غواړی چه په رښتیایو ډراماتیکی اثر او صنعت،ولیکی او دیې ګوری . دادیوه رښتیانی اوحقیقی شاعر لپاره ډیره مشکله خبره ده چه د ا سې یوياد ګاڼیا داسې یواثر ولیکی چه دنندار چیـانوخو ښې شی اوددوی داثرو په ذوق او علاقې برابر وی .

په اسمان کښې پرولوګ:لوی څښتن چه البته خپل مخلوق پیژنی فاو ست هم ورته معلوم دی ـ شیطان ته امر کوی چه له فاوست سره کتنه اولیدنه وکړی خدای یوهیزی چه شیطان هیڅکله هم خپل شوم اوناوړه مقصدته نشی رسیدلای .

دښوو نکی دورځې په منا سبت

د جونګړې ملنګ

کمیدی ،انتقادی ، انتباهی ،اجتماعی ،تربیتی ،موزیکال
درام په څلورو پردو کښې
لیکوونکی :-قتیل خوږیانی.

اوله پرده

۱ــ شمروز خان درحیم خان پلار یوبی حسه اوبی علمه سړی
۲ــ سرمعلم ــ۳ رحیم خان دشمروزخان زوی
۳ــ چپراسی ــ۵ــ کاتب تحو یلدار ـ

.....

دیکو را سیون ـ
دسر معلم د اداري سامان او لوازم ۰

.....

خبرې

(په مجرد ددې چه پرده پورته کیږی سر معلم رحیم خان ته مخ راګرزوی او ورته وایی چه)

سرمعلم :ــ هلکه رحیم خانه ته خومې دعالی تحصیل لپاره انتخاب کړې چه لاړ شې او خپل تحصیل ته دوام ور کړې که خدای ر ضاوی چه سبا درنه یوغټ او ښه سړی جوړ شی اوخپلی ټولنې وطن او اجتماع ته خدمت وکړې څنګه په دې خو به خوښ وې چه لاړشی اودرس ووایې

رحیم خان : بلی صاحب ډیر خوښ یم

سرمعلم:ـ ته خو به ډیر خوښ وې ښایی چه پلار دې خپه شی او دا راسره و نه منی

رحیم خان: صاحب زه با یدد ننی ژوند د تقاضا سره سم ژوند و کړم او پلار هم شاید چه زما د ښه ژوند طرفدار وی .

سرمعلم : ـ شابس ښه ته به که خیروی د نورو ملګرو سره سباته ځې نود خپل سفر کالی مالی اودلاړې خرڅ برابر کړه .

رحیم خان : ـ ښه صاحب ډیره ښه ده (دا وائی او داداړې څخه وځی)

چپراسی: ـ صیب تا خو رحیم خان انتراب کړو خو د ه پلا ر ډیر مضر سړی دی .

سرمعلم:ـ چپ شه ور ک شه بی تهذ یبه ته هم اوس د نورو د فترونو د پیاده گانو په شان د خپل آمر نه زیاته کلا نکاری کوې بدبخته ولی د ریشی نه کوې که سباته د ډې چتاړ ار چر ک لباس سره راغلی وې بیا به د رسره گورم .

«په دې کښی شمروز خان کاکا چه د خپل زوی له انتخابه څخه خبر شوی د ی وار خطاد مکتب لاره نیسی مکتب ته ورننوزی د اداړې دروازه په زوره خلا صوی او ورننوزی » .

خان : ـ سلام الیکم .

سرمعلم :وعلیکم خان بابا په خیر راغلې هر کله راشې څنګه د ې لار غلطه کړه . ته خو کله نه راتلې کله کله راځی ، ستاسی راتګ مو ډ ته سره زردی او د مکتب د پیشرفت لپاره زموږ سره لویه مر سته ده .

خان : ـ والله سر مالم صیب اوس هم نه راتلم خوزه خبر شوم چه رحیم خان دې په بل غم ککړ کړو .

سرمعلم : ـ نه خا ن صا حب خدای دې نه کړ ی.

غم ؟ د څه شی غم؟ داخو مکتب دی د پوهې او تنویر ځای د ی دا ځای او غم؟ ؟

خان: ـ هو کنه خوزه هم وایم چه دتنورځای دي دا غم نه دی څه دی چه رحیم خان دي په بل مرتب کښی انتراب کړو .

سرمعلم : ـ هوخانصاحب انتراب نه انتخاب .

خان: ـ هرشی چه دی کړو خوولی زمانه به هم پو ښتنه کوي ؟

سرمعلم : ـ ضرورستارضائیت خوپه کښی شرطدی تانه سلا ،مصلحت غواړواو بیابه هغه کار کو و .

خان. ـ که زمارضائیت په کښی شرطوی نوزه خو بالکل خوښ نه یم چه رحیم خان رانه بیل شی دمور یو نازولی زوی دی دمور زړه به ئی ورپسي وچو ی .

سر معلم.ـ خانصاحب تاسي باید په د ي خوښ شیء چه زوی دي تحصیل و کړی اوسباور نه که خیروی یو غټ مامور جوړشی

چپراسی: اینی مادرته نه دو ي چه خان کاکاپي خپه کیږی خوته راته په غوسه شوي

سر معلم : ـ چپ شه ور ک شه یوځلی می درته ووي چه دمچ په شان په خبره کښي مه رالویږ. کم عقله

چپراسی: ـ بنه ده نه رلویږم دازه چپ

خان : سر مالم صیب ما ته خدای ډیر شته را کړی د ی زه دزوی کارداری ته څه احتیا ج نه یم کوم غریب سړی و ګوره په کښي ورټیل ئی وهه .

سرمعلم : خان بابا ! خانان او غر یبان باید چه دواړه د علم له لاري تکمیل شی او قوم ته خدمت و کړی مو نږ او تا سي د ممدي وطن اولاد یو .

وطن زمونږ او ستاسی کار ته ستر گی نیولی دی مونږ او تاسی چه کار او خد مت ونه کړو څوك به ئي و کړی .

خان : ـ خدمت ! (هن) د دي خدمت لپاره هغه خلك پیدا کړه چه مدام ئي خدمت ونه کړی .رحیم خان خوځه غریب نه دی چه ته ئي دخدمت لپاره لیږي .

معلم :ـ خانصاحب ډېره ښه مهر بانی دې و کړه څوك چه علم لری او مال نه لری هغه غریب نه دی بلکه غریب هغه دی چه علم نه لری که څه هم په کروړو نو روپی ولری شاعر وائی:

نه دی غریب هغه هلك چه مال دولت نه لری
غریب هغه دی چه بې علمه بې هنره گرځی

بله دا چه خانصاحب ته پخپله فکر و کړه چه که معارف ته خپل اولاد ور نه کړو زراعت ته ئې ورنه کړو ، عسکری ته ئې ورنه کړو .په معابرو کښې ئې شامل نه کړو نو ته وایه چه څوك به ددې خپل وطن لپاره کار و کړی ؟ او څوك به ئې په درد وخوری ! خانصاحب دا ډېر د شرم ځای دی چه نور جهان د علم او معرفت په برکت په اسمان کښې گرزی او د سپوږمی ځمکې قواله کیږی او مونږ په سپیرو خاورو کښې رغړیږو .او نوروته مو وازې خولې نیولې دی . مونږ باید کار و کړو زحمت وباسو . تر څو چه خپله له پښو لو یدلی ټو لنه په پښو ودرو و او د جهان دروانې قافلې پسې ئې و ر گډ ندی کړو نو چه ته خدمت ونه کړې او زه ئې ونه کړم نو ته وایه چه څوك به ئې و کړی؟

خان :ـ درسته ده هر سړی باید کار و کړی خو زما زوی ډېر ناز ولی دی مه ئې رانه بیلوه زه پې ډېر خپه کیږم.

سر معلم :ـ هیڅ امکان نه لری هغه اوس د هیئت له خواڅخه انتخاب شوی دی دا د معارف مقررات نه شم ماتولی وفرمایئ په مخ مو ښه ! دا زه منلی نه شم .

خان :ـ خیر که ژوندی وم خلاص به ئې کړم او کنه نو وی به (داوائی اووځی)

چپراسی :ـ سر مالم صیب ! خان کا کا د ې چتی خپه کړو چه هغه خوښ نه دی خو ما ئې په عوض ولیږه کنه دعا به هم درته کوم .

سر معلم :ـ چپ شه بد بخته مه غږیزه ستا ددې خبرو سره څه‌دی اوسقاله.

چپراسی :ـ بد خومې ونه وې ښه ده دا زه چپ.

(په دې‌وخت کښې کاتب تحویلدار را ننوزی) کاتب تحویلدار:ـ سلام‌علیکم.

سر معلم :ـ وعلیکم میرزا تحویلداره څنګه راغلې؟.

کاتب تحویلدار : ـ صاحب یو د بیچارګی عرض‌لرم چه که وخت‌لرئ چه درته وې‌وایم خو د هغې بلې ورځې په شان را باندې قار نه شی.

سر معلم :ـ په دې شرط چه ډیرې خبرې به نه کوې‌او ماغزه‌به مې نه‌خورې.

کاتب تحویلدار :ـ صاحب شرط حرام دی . لکه چه بزرګانو فرمائلی دی چه شرط حرام دی ، تاسې هم په دې عقیده او سئ چه شرط حرام او زه پخپله شخصاً وم اویم او یم به چه شرط حرام دی.

سر معلم :ـ چپ ،چپ.

کاتب تحویلدار:ـ صاحب‌چپ‌له‌خاموشی څخه‌اخستل‌شوی‌دی‌لکه‌چه‌بزرګانو هدایت‌فرمایلی‌دی‌چه‌خاموشی له‌مطلق‌سکوت څخه‌عبارت‌ده‌او‌مطلق‌سکوت څخه‌دا‌خیجی چه دبنده اوستا دغلام اعنی کاتب تحویلدار په تحویلخانه کښې تله‌وجودنه‌لری.

سر معلم :ـ او هو، کاتب تحویلداره مې دې کړمه‌تله دې‌سر وخوره.

کاتب تحویلدار : ـ ها ها ها سر معلم صاحب ایتیاط ما یو وخت په کشاف المقلوبات کښې لوستی وو چه تله هم د بې ذیرو حو آ شیا آ تو له جملې څخه ده فلهذا په پورته ډول عرض شوه چه‌تله‌خوله‌نه‌لری‌او زماسر نه‌شی‌خوړلی.

والسلام

سر معلم :ـ اوه . خدایه ! په غضب شې کاتب تحویلداره ددومره فلسفی‌ویلو سره دې مطلب دې څه دی چه تله‌په تحویلخانه کښې وی.

چپراسی: ـ تحویلدار صیب ځان تلې که ما؟

کاتب تحویلدار: ـ لکه چه ما په محبوب الاکتشافات کښې ملاحظه کړې ؤ او لوستلې ؤ مطالعه کړې ؤ اولېدلی وو د پورتنی کتاب په حاشیه کښې دا سې لیکل شوی وه چه : هر کله یو نوکر دخپلو بادارانو په مقابلا تو کښې چه عبارت له جنابات سرمعلم صاحب اوما څخه دی ستا په شان جاهل بې معنی، لاابالی وغیره وغیره ژبه اوزده کړی فوراً دموقوفاتو امر مصدر ات وفرمائی وـلام کاتب تحویلدار

سرمعلم :ـ کاتب تحویلداره نور چټیات بس که.

کاتب تحویلدار:ـ صاحب څه شی دې وفرمایل قربان شم چټیات له چپو له څخه مشتق دی لکه چه بزرګانو فرمایشات فرمائلی دی چه هر څوک چټیات وایی هغوته چپوله ګوی وائی اوزما کمینه عرض ستاسې په حضور کښې دا دی چه زه نه ځان تلم اونه دابدبخت پیاده بلکه غواړم چه دمقرره اصولاتو په قرار دمحروقاتو لرګی پیاده ګانو ته ددې نفری هیئت په مخ کښې وسپارم اودتحویلخانې قلفائې په دسخط مهر اولاك کړم چه دمحرو قاتو لرګی بې توله ونه وزی اومادجنسیاتو په د فاتر و کښې متباقی نه کاندی دغه امید لرم والسلام

سرمعلم:ـ کاتب تحویلداره خدای دې یارزتا اصلاح کړی اویادې په خیر سره ورك کړی درومه نورمامه په عذابوه تله درته اخام.

(کاتب تحویلدار غم غم کوی وځی اوپرده ورو ورو لویزی.)

دوهمه پرده

خلك

۱-بګړ :دخان نوکر .

۲ـرحیم خان :دشمروز خان زوی

۳ـشمروزخان :- درحیم خان پلار

٤- کاتب تحویلدار؛-

❁ ❁ ❁

دیکوراسیون

دخان د کورلوازم (بالښت، نالی، پتنوس او چاینکی) -

خبري

(دپردې دپورته کیدو ۲سره سم بګړ د کور دسامان په صفائی بوخت دی او دا سندره دسازسره وایی:)

وپیژنی ماچه زه څوك یمه

دلته کوم څه د کوم توك یمه

❁ ❁ ❁

زه دلته دخان صاحب نوکر یمه

کله زه د خان صاحب نوکر یمه

زه ئې په خدمت کښې مدام روك یمه

❁ ❁ ❁

خانصاحب دزوی په غم کښې تللی دی

کله دی په شپه زما را غلی دی

زه نوروته پوی او دوی ته پوهـ یمه

زه‌دخان په مخکښې غږیدی نه‌شم
ناست‌چه وی نوغږ پورته کوی نه‌شم
وه‌چه وځی راډیوپه شانتی کوك یمه

(دسندری دخلاصیدلو سره‌سم‌رحیم‌خان راننوزی)

رحیم خان :- هلکه بګړه پلار می چیرته دی؟

بګړه: آسلام‌الیکم خان بادارجان خانه‌هغه‌خوستاله رختخواوه‌خبرشو. . .

رحیم‌خان: رختواو. دځه‌شی‌رختواو. ورك شه

بګړه:-ورك شم ولې مې ور کوې ولې‌ته نه پوهیږې څه؟ رختخواوهغه څه دی چه سړی‌دلشی لپاره ونیول‌شی لکه‌ته‌چه‌یی دبل‌مرتب‌لپاره رختخواو کړې .

رحیم‌خان:- چپ‌شه لوده رختخواو.رختخواو څه‌شی‌دی‌انتخاب‌ولې‌نه وایی؟

بګړه:- زه‌په‌دې خبرو نه‌پوهیږم‌خوخانصاحب رختخواو، رختخوویلی نو ، او همداسې روان‌ؤ .

رحیم خان :- ښه نو بیاځه وشوه .

بګړه :- څه وشوه . خیرنوته وږې‌چه زه فکر و کړم چه بیا څه وشوه .

رحیم خان ،- ورك شه بد بخته ....

بګړه - هو رښتیا با دار جانه را په یاد شو خو خا نصاحب‌مرتب ته ورغی‌چه له رختخواوه دې- خلاص کړی نو .

رحیم خان :- گوره بدبخته یو ځلې مې درته‌ووې چه رختخوا و مه وایه انتخاب وایه خو ته په نیمه نه پوهیږې .

بګړه .- والله بادار جانه که رښتیا د رته ووایم ژبه مې ورباندې‌نه چلیږی .

رحیم‌خان : - (دځانه سره) اوف خدایه داځه وشوه . خدایه ته خوو کړې چه سر معلم صا حب ز ما د پلا ر خبرۀ و نه منی ځکه که د پلا ر خبر ه مې

ګټلی چه په سرئې بادوې هم خلاصه به ئې نه کړې .

رحیم خان :ـ پلاره دنیا دلاس خیری ده هیڅاته نه پاتې کیږی . کوم شی چه تر آخره پوری دانسان ملګری وی او هیڅ وخت تړې نه بیلیږ ی هغه علم او کمال دی . د دنیا او آخرت عزت او رسوخ په علم او پوهه ګټل کیږی

خان :ـ ستا ډېرې یادې دی ډېرې یووارمې درته ووې چه قراری په کور کښینه او چرچې کوه .

رحیم خان :ـ زه محض په چړ چو خپل عمر صرفول نه غواړم، ځامه غواړم ، کمال غواړم عمرمې مه بر با دوه . پلاره دخدای لپاره زه خو ستا ګران زوی او دزړه ټوټه یم دښمن خو دې نه یم .

خان :ـ واوره بګړه دا اوس دښمنی شوه .

بګړ :ـ باداره ماددې زمانی زامن دی دوست او دښمن نه پیژنی او دواړو ته په یوه ستر ګه ګوری .

زماهم همداسې یوسپین ستر ګی زوی ؤ اخرمی له کوره وشړلو (تماشا چیاتوته مخ را ګرزوی اوپه قراره وائی چه) ـ دروغ والله که می تراوسه وادم کړی وی هسې مثال دخبرې .

خان :ـ بګړه ستا اوس د اخیال دی چه زه ئی هم وشړم .

بګړ ـ نه با داره خولږسپین ستر ګی دی .

رحیم خان ـ پلاره ! دا زما اخرنی عرض دی خواهش کو م چه و ئې منیء که نن زه له تعلیم او تحصیل نه پاتې شم نودقیامت په ورځ به ز ما لا س ستا د مبارك ګریوانه پورې نښتی وی که غاړه خلاصوې نوما له د ې کا ر ه مه منع کوه . ملنګ جان دپښتوپیاوړی شاعر وائی چه ؟؟

وختی چه محروم‌له علمه زه ملنګ جان پاتې شوم بندبه وی قیامت کښې
زما لاس دچا ګریوان شره. نو پلاره. زما به لاس وی اومتابه ګریوان وی.

خان ـ الکه رحیمه نوره خوله ونیسه . چې ! ته اوس غواړې چه ۲ په ژوندون
مې تربورانوته میراث کړې ته خوبې غیر ته ئې نه شر میزې مابه په تربو راتو
کښې و شرمو ې .

رحیم خان ،ـ بښه ده پلاره ! زه به خدای ته صبر کوم(داوائی او ، له کوتی
څخه وځی او کاتب تحویلدار راننوزی .)

کاتب تحویلدار :ـ خانصاحب اجازت دی چه‌ستاسې داطاقاتو،سالونا توته‌داخل
خان:ـ هوهوولې نه‌اجازه‌ده‌راځه‌زاځه بښه چیرې وې جناب کاتب‌تحویلدارصاحب.
او څنګه شو چه‌زموږ غریبا ناتو پوښتنه دې‌و کړه .

کاتب تحو یلدار :ـ صاحب غریب له‌غربت څخه اخستل شوی دی او پیسې له
ثروت اوثروت له د ولت اودولت له‌هستی او هستی له‌جا یداد څخه عبارت د.
فلهذ امعذا لک‌والا سف.اوه‌زره اودرې سوه نه پنځوس افغانی‌او یو شپیته پوله
دمحروقاتو اونورو چکاتو له‌در که چه‌اخیستی مې‌وه باقیاتاتې را باندې حواله
شوی‌دی. اوهم دخدای‌په‌فضل اومرحمت‌له کاراتواو اموراتو څخه‌موقوفات‌شوی‌یم.

و السلام کاتب تحویلدار

خا ن:ـ بګړه ته‌فکر و کړه چه ددې کاتب تحویلدار په‌خبرو څوك پوهیږی
څوك‌در ته‌معلوم‌دی که نه

بګړ :ـ صاحب یوسړی .

خان ـ څوك؟

بګړ ـپا داره ته‌ودرې چه‌زه فکر و کم رښتیا راپه‌یاد شو زه‌په خپله .

ومنل شی اوله تعلیم نه پاتې شم نوزه په دې یقین لرم چه نازولی ژوند به می خوار و زار تیر شی .

خدا یه ته خو مې د پلار په زړه کښې رحم پیدا کړې چه له دې ظلمه لاس واخلی او ما خپل تحصیل ته پریږدی . که دتعلیم نه پاتې شوم نوروزګار به می دبل نوکری ته محتاجه کړی .

بګړې : ــ ښه خوشحاله ئې چه له رخنخواوه خلاص شې داخوځه ظلم نه دی ته ودرې چه خانصاحب راشی والله چه تر څو ورته ونه وایم نوکری څه شی دی چه تا اوس د خلکو نوکری ته زړه ښه کړی دی زه چه دا کار کوم والله چه د زړه نه می یو خدای خبر دی .

رحیم خان : ــ خو بس که زه له تحصیل نه پاتې شم نو زما د زړه ته به هم خدای خبر وی .

بګړه ته او خدای چه راسره ملګری شه چه پلار مې منع نه کړی .

بګړې : ــ جل جلاله (په خندا سره) بند ښه ستا او س دا مطلب دی چه ما په خان بی آبه کړې او پې ومې شړې ته خو ئې زوی ئې خو مونږ به د پولی ټک ته پې کښوې والله که دې له سره ملګری شم .

(دوی په همدی خبرو کښې دی چه خان کاکا رانوزی بګړ وارخطا کیږی پاخیږی او وائی چه ؛)

سلام الیکم بادارہ !

خان : ــ والیکم بګړه بیا دې څه غال مغال شروع کړی دی ټوله ورځ ته ئې او چټیات .

بګړې : ــ اینی ما خو رحیم خان ته ویل چه ما به پې و شړې او ، دوې

چه ته می ملگری شه والله که دې ملګری شم ملګری می‌شه . دغه دی.

خان : ـ ملګری؟ د څه شی ملګری ؟

بګړې : ـ څه خبر یو دا رحیم خان و ائی چه ...

(رحیم خان ئی خبر ه پر ې کوی .)

رحیم خان :ـ چپ شه ورك شه . دا خوشی کم عقل دی‌په خبره نه پوهیږی چټی لګیا دی . بنه پلار ه څه دې و کړه ؟

خان : ـ له چا سره ؟

رحیم خان : ـ له سر معلم صاحب سره .

خان : ـ ته زما زوی ئې که د سر ما لم ، چه زه د ې و نه لیږ م سرما لم خود ې نشی لیږ لی . زه خو گو ر ه همیشه ستا په خو ښا لی کښې هڅه کو م او ستا د بنه ژوند طرفدار یم .

بګړې :ـ هو کنه باداره دا خو ور کوټی دی په دې خبرو څه پوهیږی. پلار خو په زوی‌ډیر مهربا ن وی، لکه ته چه په رحیم خا ن مهر بان ئی هو ښیا ران وا ئی چه : د پلار زړه په زوی او د زوی په کا نی .

رحیم خان : ـ بنه بس که اوس تقریر پر ید ه ورك شه .

بګړې : ـ بنه د ه دا ز ه چپ .

رحیم خان ـ: پلاره زه خو په دې پوهیږم چه ته له ما سره ډېره مینه‌لرې اویوه گړی مې هم له ځانه بیل نه غوا ړې مگر پلاره که ته زما بنه ژو ند غوا ړې نو ما پریده چه مکتب ته لاړ شم او خپل تعلیم ته دوام ور کړم .

خان : ـ پریده زویه ددې خبرو پسې مه گرځه چټی خپل ماغزه‌مه‌خرابوه د مرتب ،مرتب پسې مه گرځه . مرتب ته څه ایتیاج لرې‌دومره دنیـامې درته

خان ـ شپه ده نو ريي څه ووي .

که ربښتيا راياندی وا يي باداره همدومره پوه شوم چه د خدای په فضل له کاره موقوف شو ی دی

خان ـ شپه کا تب تحو يلدار صاحبه ته دلته څه ته راغلي .

کا تب: صا حب! ماددي لپاره چه له تاسی څخه ه قروضات و کړم دلته خپل تشريف شر يف راوړو چه لس زره افغانی، چه مناصفه يي پنځۀ زره افغانی چه د هغي نيمائی دوه زره او پنځه سوه افغانی کيږی ماته تر فصله پوري په طور سودة القرض والرواج فی العام تاديات وفرمائی

والسلام کاتب تحويلدار

بګړ :ـ باداره دا په خبره کښی هم دستخط کوی .

خان :ـ يوه هفته مهلت را کړه له يوي هفتي وروسته به بياسره غږيږو .

کاتب :ـ جناب خان صاحب تاسي حقيقتاً چه يولاپوک سړی، يومتلون المزاج اومتشککک الفکر وغيره وغيره سړی ئی ء. چه زماسره مو پخواله دي په څومره په خوږه ژ به اوداړه ماری گوزاره کوله اواوس دا دري جمعی کيږی چه ماځلورمي جمعی دمراجعت او اقدام فرمائی ء څنګه چه تاسي ډير دروغجن ياستی ء زه ستاسي له مقروضا توڅخه منتصرف يم اوستاسي له اطاقاتو څخه اشراف وړم. دخدای پامان.

(کاتب تحويلدار وځی اوپرده پريوځی)

دریمه پرده

خلک

بګړ :- د رحیم خان نوکر

رحیم خان:- دبګړ بادار

سازنده ګان

دري کسه قمار بازان. - درحیم خان یاران

دیکورا سیون

(درحیم خان د کور لوازم چه په دوهمه پرده کښی لیکل شوی دی)

خبري

(دپردي دپورته کیدلو سره پیوسته بګړ چه دځای په پاکولو مصروف دی دځانه سره لګیا دی وائی چه.)

بګړ: ـ عجب بادار خدای درکړی دی دپلار ئي په یوه روپی بي ځایه مصرف زړه چاودیدلو اوده چاری ورپسي راخستی ده په سرئي بادوی دنرزوی دی ربنتیا چه پلار ګټلی زوی ته کوم اهمیت نه لری که هر څومره ورته وایم.

باداره! بي ځایه ځوانی پریده. داخلک چه نن درنه راتاودی ټول دخپل مطلب یاران دی نن چه پیسی ورته مصرفوي او غوړي غوړي میلمستیا ګانې ور کوي یاوان دي دی که سبا خدای نخوا سته د نیستی خزان در باندي راغی دا یو بم په ستر ګوو نه ګوري .

خودی راته د قاره سور واو ړی چه ورك شه ته په دي خبرونه پو هیږي چتی بکواز مه کوه خوزه د مجبوری نه چپ شم او بیا دفیل مرغ په شان چرت وهم

ځکه چه زورمی ورسره برابر نه دی.

هو ښیا ران وائی چه « - دوستان او د ښمنان د بد بختی او مصیبت په‌ورځ معلومیږی » او یادا چه «نیستی ددوستانو تله‌ده »حقیقی دوستان هغه دی چه په بده‌ورځ د سړی په کار شی .

د ښې ورځې او عیش و نوش یاران خو ډیر دی که زه دې خپل با دار ته هر څه وایم دی وائی چه : فلسفه پریده چټیات مه وایه.

اگر چه ماته یې څه تاوان نشته خو خدای دې د ده پلار وښښی هغه را سره ډیره ښه ګذاره کړی ده نو په ده مې ځکه زړه در د کوی . مګر افسوس چه زما وینا ورته‌داسې ښکاری لکه سړی چه اوښ‌ته رباب وهی .

که څه هم اوس دو مره شی ور سره نه دی پاتی د پلار مال او دولت ئې په بې ځایه ځوانی،قمار اوچرسو برباد کړو همدا یوځ کلا پاتی ده که خیر وی نور فیصله دی . مګر په بادو سپور دی له مستی نه نه لویږی.

اوس ګوره چه څه کاکه کاکه تیار خواره ځوانان ورسره راشی والله چه دوی دلته راځی دومره زور راکوی لکه ما چه خوری.

(په دې کښې ټك ټك کیږی) بګړ : (خیردې وی چه بیا کوم داړه مار راغی)څوك ئې ؟

سازندګان . مونږ یو .

بګړ. ـ تا سې څوك یی ؟.

سازندګان .ـ مونږ سازندګان یوخان شته ؟

بګړ .ـ نه نشته (د ځانه سره فکر کوی ولې ورته وایې چه نشته پریده چه راځی د بادار تر راتګه خو به دې خپل سات تیر کړې)هوراځی.

(سازندگان را ننوزی)

بگړ ، ـ په‌خیر راغلی ء وه‌نام خدا ستړی مه شیء اوس به که‌خیروی‌خان د خپلو یارانو سره راشی تاسی تر آغی خپل سر مر برابر کړی ء

(دوی په همدې خبرو کښې دی چه خان د خپلو در و کسو ملګرو ثمین ، سمندر او نور وز سره را ننوزی) .

خان ـ نورو زه یاره نن مې‌سیل‌ته ډېرزړه شوی ؤښه‌دی‌چه دا سازندګان خو په خپله راغلی دی

نوروز ـ هو کنه خانه دومره خوبې طالع نه یو .

سمندر . ـ دا ټول ستا برکت خانه ...

بگړ . . ـ دا ټول زما برکت دی که مااجازه نه وای‌ورکړی‌ه‌وی‌راتلی‌شول!

خان ـ چپ شه ورك شه ستا برکت دی برکت والا

بگړ:ـ مونږ څه‌خبر یوچه تادبرکت غونډی دځانه سره‌راوستی‌ده .

خان ـ وایم‌چه چپ‌مه غږیزه احمقه .

بگړ:ـ بادار جانه قربان دې‌شم‌په‌غوسه کیږه مه زړه‌دې رانه‌ویستلو.

خان:ـ بگړه چپ .

بگړ:ـ ښه دازه چپ. نه‌نه‌توبه چپ‌نه په‌غوسه کیږې به‌نه‌یوه بله‌خبره‌می‌په‌دې زړه کښې گرزی که وئی نه‌کم زړه به‌می وچوی .

خان ـ وی که‌خو چتیات به‌نه‌وائې .

بگړ ـ باداره خبره‌خوداده‌چه‌ته مانه تمخارا کوې‌خودلاسواوپښو تمخارا کوې چه‌په‌لاسواوپښو کاردرته کوم نودخولې تمخاخو نه را کوې چه‌زه چپ شم که خوله‌مې په‌اجاره اخلې نودهغې به بیله تمخارا کوې .

خان:- چپ شه ورك شه چتیات پریده .

بګړ:- شه ده دازه چپ.

شمین:- وتیسیء کنه د ساز سرشته وتیسیء خانه! دوی به ساز کوی او مونږ به خپل د ولګوو .

خان:- ډیره شه ده استاذه شروع کړه) سازندګان په ساز شروع کوی اودوی په قمار ګرمیږی سند ر غاړی هلکان سندري وائی اوخان دلوټو امیلونه ورته جوړوی او په غاړه کښې ځي ورآچوی. سازاو قمار دواړه ګرمه دی. خان په بیه کښې دی بدرائځو نغدي پیسی چه څه ورسره دی ټولې با یلی بیا بګړ ته مخ را ګر زوی او و ر ته وائی چه.)

خان:- بګړه ! هله کورته لاړشه اوروپی راوړه

بګړ :- با داره کور کښې خو نغد یو پول هم نشته ځمکه دي خلاصه کړه.

خان : - زه در ته وایم چه منډه. لاړشه دهر ځایه ئې چه کوې روپی به راوړې.

بګړ:- بادار جانه دچانه ئې راوړم دپلار ځمکه خودي ټوله خرڅه کړه اوپه قمار دي ووهله یوازي دایوه کلاپاتې ده که کوم سند مند دي په جیب کښې وی نوره خودخدای هیله ده. خوبادارجانه که زمامنې راشه بس ئې که.دایوه سر پناګی ځانته پریده دپلار دلاس نښه دي ده .

خان- چپ احمقه .

(دجیب نه سندراوباسی هغه هم بایلی اوبیاد کلا دوړودی)

بګړ:- د کلاد و خودي کیښود چه هغه د کنج کوټه دي پلارماته رابښلی ده هغه ورنه و باسه چه زما کوټه بیه نه کړي.

خان:- چپ غزیزه مه ټول خار ته را کوي بدیخته

(کلاهم په قمار کښې بایلی).

بګړۍ- د کلانه ډې هم ځان خلاص کړو

خان:- ستا کار نشته زه اخپل مال دی.

بګړۍ : ـ پلار ګټلی زوی ته اسان دی که په خپله دې ګټلی وای او لاس دې پری ژ هیر شوی وای هیڅکله به دې دا کارونه نه وای کړی.

خان : ـ چې شه ورك شه قسم دی چه په دی تمانچه دې عمری غلی کوم.

بګړۍ . ـ چې شه؟ څنګه چې شم زما په تا زړه خوږ یږی.

(خان ته غصه ورځی تمانچه را اخلی او بګړۍ پری ولی قمار بازان او سندرغاړی چه د بګړۍ مړی په وینو سور ګودی تښتی اوځی. رحیم خان هم وارخطا کیږی غواړی چه وتښتی هر پلو ته چه ورځی واهمه ئی نیسی او وجدان ئی تهدیدوی.)

(دوجدان غږ ـ هاهاها. ـ بدبخته رحیمه څه دې وکړه پلار ګټلی دې برباد کړه قمار باز شوې، چرسی شوې، زررنګه فجائع دې وکړه په هغی دې قناعت ونه کړو اخر په قتل مرتکب شوې او خپل خبرخواه نو کردې و وژلو هاهاها په قهقه خندا).

تاته دغریب مرګ دچرګوړی قدر اهمیت نه درلود. زردی هو! زردی چه دخپل بد عمل په سزا ور سیږې.)

(رحیم خان وارخطا آخوا دیخوا ګرزی د سخت فشارلاندی راځی. اووائی چه.) ته څوك ئی؟.

و جدان . ـ ها ها ها (په قهقه خندا) . ـ

ته ما نه پیژ نې؟ زه ها ها ها زه ستا وجدان یم و جدان زه هغه څوك یم چه په ما باندې دې پښی کښودلې اود پښو لاندی دې کړم بد بخته ولې. هاهاها.

رحیم خان . ـ و جدان! و جدان!!

(داوائی اخر چیغه وهی ضعف کوی اوپر ځمکه راپریوزی. پرده کش کیږی)

څلورمه پرده

لس کاله وروسته

خلك

رحیم خان . ـ د جونګړې ملنګ

غاڼول : ـ د رحیم خان هم صنفی

غوڼې : د غاڼول بڼځه .

❀ ❀ ❀

دیکور را سیون

(یو ځنګل او د ځنګل تر څنګ یوه جونګړه ، کند او کچکول په کچکول کښې د وچې ډوډۍ څوڼې)

❀ ❀ ❀

خبرې

(دپردې دبیرته کیدلو سره سم غاڼول د خپلې بڼځې غوڼې سره ځنګل ته د هواخورۍ لپاره راوتلی دی اودخپلې بڼځې سره لاس په لاس چکروهی) .

غاڼول . ـ څنګه بنه هواده مازیګر نی زیږی لمرددې ځنګله سیمه په خپلو زرینو او طلائی وړانګو زرینه کړی ده اوبیا ستا بڼکلی اوزیبامخ په کښې بلشان اثر اچولی دی .

ګرانې ! ر بڼتیا چه د مینې او محبت نه په غیر بنه ژوند نشته .

زړه د مینې او محبت کور دی او دژوندون سټنه پهمینه او محبت ولاړه ده خوږ اوبنه ژوند هغه دی چه په مینهاومحبت تیرشی . پهتیره بیا دبڼځې او میړه تر منځ د مینې او محبت خوږ ژوندهغه و خت منځ تهراځی چه ځوانان اوپیغلې په انتخاب کښې سره آزادې وی یعنی بڼځهپه خپله خوښه میړه . او نارینه په

خپله خو نه ښځه ځانته انتخاب کړی خو په شرط ددې چه د اسلامی مقر را تو نه وتلی انتخاب ندوی

غوتی..(په مسکی خوله او خندا) بالکل (داو ائی او غاټول لږ شانته ټپل وهی او تړې لړی کیږی)

غاټول ..ـ هه، هن (په خندا)

(غاټول اوغو تی دواړه دساز سره لاندنی لوبه شروع کوی)

لوبه

جار شم لتا نه ـ وی ښکلی جانانه تابه چیرته لټومه

❁ ❁ ❁

ملالو ستر ګو نه دې جار شم قربان قربان دې له رخسار شم

جار شم لتانه

وی بې ـ غیر لتانه به څو شپې سبا کومه

❁ ❁ ❁

نوم دې زما په زړه زر غون دی څکه احو ال می دمجنون دی

جار شم لتانه

وی ـ نا مهربانه تابه چیری وویښمه

❁ ❁ ❁

ته می شیرینه زه فرهاد یم ستاد دیدن پسی نا ښاد یم

جار شم لتانه

وی شاه خوښانه په غم عمر تیروه

❁ ❁ ❁

تا د دیدن پسې ګریزم تل د نا رنج په شا ن زیږیزم

جارشم لتانه

وې ـ دغه ناسور زړ ګی به چیرې ګرزومه

چه کو مه ورځ په تا شیدا شوم زه قتیل غم کښې مبتلا شوم

جار شم لتانه

وی- دزړه درمانه څوبه اوښکی تویو مه

❁ ❁ ❁

(دسندرې د خلاصیدو نه وروسته غاټول غوټی ته مخ راګرزوی اوورته وائی چه:)

غاټول :- ګرانی اګر چه ددې ځنګل سیل او تماشا ډیر خوند لری اماځنګه چه نا وخته دی بهتره ده چه په قراره ،قراره تری ړهی شو.

غوټی: - ډیره ښه ده ځه چه ځو .

(دا وائی او لاس ترلاسه د ځنګل څخه را وځی)

(د جونګړی ملنګ په جونګړه کښې ناست دی او سر ئی په زنګا نه ایښی دی . سر له زنګانه څخه را پورته کوی . د وچی ډ وډ ی ټو ټې له کچکول څخه را اخلی خولی ته ئې نژدی کوی څه خیال ورځی ډوډی بیرته په کچکول کښې زدې او وائی چه) -

ملنګ .- (سوړ اوسیلی اوباسی) ، خدایه دا څه حال او دا څه ژوند دی چه په ما باندې تیریږی مال ،دولت عزت او دارائی ټوله لاړه.

پلاره اوس دې خدای وبښه څه شوستا هغه مال او دولت هغه دارائی اواستعداد چه اوس ما نه دې ورځې څخه خلاص کړی .تعلیم او تحصیل نه دې پر ینښوم اوس مې دغه حال دی چه مخ په زوال دی کا شکی چه ته ژو ندی وای او زما ګوز اره دې لید لی وه . کار مار هم نه پیدا کیږ ی که پیدا شی له لاسه مې نه کیږی او پی شرمیږم خپله خو اړه او تن لباس غو اړی مګر دا یو هم درک نه لری . نفسه ته وې چه په دې فجائعو دې مرتکب کړم . چر سی دې کړم .

قمار باز دي كړم ، قاتل او خونى دي كړم او بالاخره د جو نگړى ملنگ دي را نه جوړ كړو .

خدايه ته مى و سيله‌ساز شي .زه خو نور څوك نه لرم چه په‌دردمي و خورى يارانو خورانه لاس واخستو هغوى ټول د ښې ورځى ياران ؤ . بگړه خداى دي و ښښه بې ځايه مي و وژلى تاسره زما د ښه ژوند فكر ؤ ، مگر زه ؟ هو زه مغرور وم•جانى وم خدايه ته پوهيزى او كا رونه د ي .

غزل

خدايه مل زما شي څوك نشته بى لتا
رحم و كرم دي غواړم حال ته وينې زما

❀❀❀

داژوند دغه روزگار دى دځان‌په غم اخته يم
ژړ يږ مه هر چا ته مسكين يم بينوا

❀❀❀

له علم و له تعليم نه پلار پاتې كړم تحصيل نه
حاصل د ژوند و ن داشو چه شومه خوار گدا

❀❀❀

دولت ؤ مال مي لاړو احتياج مي شو نصيب
په بده ورځ اخته يم محتاجه د هر چا

❀❀❀

د جهل لوى مرض نه حاصل منت خوارى ده
قتيله ځان دي سا نه د جهل له بلا

❀❀❀

(دوجدان عز . ـ هاها ها !!) .

بد بخته ر حیمه څه دې و کړه او څه حال ته ورسید ې و ګوره دا چه تا ته را روانه ده او غواړی چه تا استقبال کړی . آیاته پوهیږی چه د ا څوك د ه ؟ که تا ځان په دې بد بختی نه وی ککړ کړی نو داد سعا دت شهی ستا وه اوس ګرز ه او ملنګی کو ه . ها ها ها . ها ها ها .

ر حیم . ـ ته څو ك ئې ؟

وجدان :ـ هاهاها . هاهاها . زه هوزه ستا وجدان ستاشریف ملګری. بد بخته قاتله خونی اوجنا یتکاره . . .

رحیم: - بس، بس (داوائی اوچیغه وهی ضعف کوی اوراپریوزی . غاټول چه دده چیغه اوری بیرته ورته راګرزی . ګوری چه رحیم پرمخی پرځمکه پروت دی غاټول ئې راپورته کوی . دلاس او پښو تلی اوزړه ئی مزی رحیم خان ستر ګی غړ وی غاټول، ته ګوری او وائی چه:)

رحیم: ـ ته، ته، ته څوك ئې زه جانی یم زه قاتل یم، چرسی او قمار بازیم پرې مې ده چه په بدحال او بده ورځ له ـ نیانه ستر ګې پټې کړم زه ـ رحم وړنه یم په ما اوپه هغه چاچه زما په شا ټې د ځان اوجامې میکروب وی رحم نه دی په کار زماژوندژوند توهین دی زه دهیڅ قسم رحم وړنه یم زماسره مرسته اویه ګناه ده بیرته چه په همدې جونګړه کښې مې هم دا کچکول سر ته اینبی وی اوساه مې وخیجی .

غاټول - رحیم خان نه ئی ؟

رحیم .ـ هوزه رحیمی یم پرونی خان اوننئی ملنګ .

غاټول ـ خدایه زه لتانه ټول شکر ګزاره یم چه خپل ور ک امید دې راپه لاس

کړو او بیا مې رحیم خان پەژوندونی ولید

رحیم:- ای دخیر خاونده ته څوک ئې چه دخوارانود سوی زهەپه کار شوې

غاتول :- زه هغه غریب یم چه تاسه را ته همیشه په سپکه ستر گه کتل اوله خنگه به دې شرلم زه ستا سې د د هقان زوی غاتول یم .

رحیم :- ته ؟ ته غاتول ئې؟ ته غاتول ئې ؟؟ (په ر پید لی آواز) .

غاتول:- هوزه غاتول یم ستا هم صنفی غاتول

رحیم - غاتول پەخیر راغلې (روغبړ ورسره کوی)

غاتول - ښەرحیم خانه په تاخەچل وشوته خود ډیرې هستی خاوند و ې مال ، دولت او دار ئی دې څەشوه ؟

رحیم - صیبه! څه پوښتنه کوې مال،دولت دارائی اواستعداد مې تول به بې ځایه ځوانی ، چرس او قمار برباد کړو. بگړمی وو زلو لس کا له قید مې تیر کړ و او اوس ددې جو نگړې ملنگ یم. خو ته . . څه کار.

غاتول.- زه اوس له مکتب خلا ص شو مې یر وخت په تحصیل بوخت وم او اوس مدیر مقر ر شو ی یم .

رحیم . - ته مدیر ئې ؟

غاتول. - هوزه مدیر یم راځه زما سره لاړشه چه زه درته په خپله اداره کښې کار پیدا کړم راځه .

رحیم.-نه غاتول جانه !ما مه بیایه اوزماسره مرسته او کومك مه کوه زماسره مرسته گناه ده زه بد بخت یم زه میکروب اود تو لنې مضر غړی یم پریده چه همدلته په خپله سزا ورسیږم .

غاتول .-ته ما یو سه کیږ ەمه نه به ډیر مفیدغړی شې راځەاوزما سره لاړشه.

«له مټه یې نیسی اوو ځی » پرده کش کیږ ی ختم

پته

غازی واټ، شمالی برخه، توی بنار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دتلیفون لمبر (۲۱۲۹۱

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هپواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱ـ کابل ۲۰

۲ـ اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کیږي

د پښتو ټولنې دجاری حساب نمبر په افغانستان بانک

او اطرافې نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په اداره کښې هم اخیستل کیږي

Orientalia

KABUL

2 - AUG 16
Copy ____ 1963

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy.....: Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Sidiq Rohi

Coeditor : M. Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه